# دعوت

ملي، خپلواکه خپرونه

ISBN: 978-82-691395-2-5

Vol. 242 Jan. 2022 — پرله پسي ګڼه ۲۴۲

## ملي سندره

خو چې دا مځکه آسمان وي
خو چې دا جهان ودان وي
خو چې ژوند په دې جهان وي
خو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت

د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصـــيحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډيره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ايت )

موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزګر**

د تأسيس نيټه :1367ل،(۱۹۸۸م)

Dawat Media,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384
Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com

## د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

## د همدې ګڼې د پښتو برخې په وروستي مخ کې

## له يو څه ځنډ وروسته د دعوت مجلې ۲۴۲مه ګڼه

د دعوت دا ګڼه (۲۴۲مه) هم په داسې وخت کې د پي ډي اف PDF په بڼه د يو څه ځنډ وروسته خپريږي، دا ځل کلک هوډ لرو چې دعوت مجله د پي ډي اف PDF په بڼه په هرو دوو مياشتو کې په منظم ډول ستاسو درنو هېوادوالو او په ځانګړي ډول د خپلو قلموالو په مرسته خپره شي .سره له دې چې د دعوت رسنيز مرکز د فعاليتونو زياتول يا بيا فعالول خورا زور، زر، بشری کاري قوت او وخت غواړي. خو د هغه تعهد له مخې چې د خپلو خلکو، ولس، هېواد او ژبې سره لرو تر خپلې نهايي وسې به هڅه کوو، چې فعاليتونه مو په ښه بڼه دوام ومومي. زموږ د فعاليتونو د دوام لپاره ستاسو د هر يو بااحساسه وطنوال هراړخيزه مرسته اړينه ده او موږ له هر وخت زيات ستاسو مالي مرستو او قلمي همکاريو ته اړتيا لرو. هغه هېوادوال که نور هيڅ نه شي کوی او د خير په غونډۍ ناست وي، هر څه له نورو غواړي حد اقل دا خو به کولای شي چې د دعوت مجلې دا ګڼه او د دعوت رسنيز مرکز نور فعاليتونه د خپلو کورنيو، ملګرو او خورو ورو هېوادوالو سره شريکه کړئ .اوس چې د دعوت مجلې خپرنيز ۳۴ کال دی؛ نو يو ځل بيا وايو، چې دعوت ستاسو او ستاسو لپاره او تاسو د دعوت ياست.

دعوت له ۱۹۸۸ - ۲۰۲۲

مينه او درنښت

محمد طارق بزګر

### داکتر مير عبدالرحيم عزيز در مصاحبه با دعوت:

## نظام طالبی زمانی ميتواند مشروعيت خود را در سطح ملی و جهانی بدست آورد که ارادهٔ مردم را تمثيل نمايد

صفحه ۳ الی ۵

### په دې ګڼه کې:

-دعوت رسنيز مرکز د افغان ولس غږ
-دعوت رسنيز مرکز ستاسو او ستاسو له پاره
- محترم داکتر مير عبدالرحيم عزيز در ګفتګو با دعوت
-تاريخ ولې تکراريږي؟
-د ثواب او عذاب نيمګړی تفسير
- ټوکه که رښتيا؟
- نامعلوم حالت، د مشر په توګه دا شپږې کړنلارې وکاروئ
- ډير ژر قضاوت مکوئ
- انسان ولې جنګ کوي؟
- غل چا ته ويل کيږي؟
- بېغيرته پوځ!؟

### د ورپښمو کاروان

- منزه غفورزۍ د دې ګڼې شاعره
- فرښته لرم اخلې؟
- ژبه ګنې يوازې د غړونو ټولګه ده؟
- د بدن د دفاعي سيستم پياوړتيا
- استاد ګلزمان خپلې اوښکې...
- د لتا منګشکر د جنازې مراسم
- د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

### In English Issue:

**Why is the White House stealing $7bn from Afghans?**

**Children on the edge of life in Afghanistan**

## مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، آباد او يو موټي افغانستان په لور

# دعوت رسنیز مرکز د افغان ولس غږ

**قدرمنو لوستونکو !**

د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز وياړي چې د خپلو رسنیزو فعالیتونو د لارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شیبو کې په ملي افغاني روحیه د افغانستان په روانو حالاتو باندې په علمي څېړنو، تحلیلونو، او تبصرو له لارې خپل هیواد او هیوادوالو ته د خدمت مصدر ګرځیدلي یو.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تمامیت، ملي ګټو او د ملي یووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، لیکوالانو، او روښفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانیستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هیواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپیژني او تر ممکن حده د دوی خاینانه دسیسې او توطیې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنیز عدالت، وګړیزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بیان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنیو بنسټیزو اسانتیاو د برابرولو، او په لنډه که ووایو د دموکراتیکو لارو، نه د "زور، زر، او تزویر" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثریت په خوښه د یو غښتلی او منلي مرکزی ملي حکومت د جوړیدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بیائي.

خو!

د دې څراغ د روښانه ساتلو له پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاریو ته د هر وخت نه خورا زیات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسۍ او د دعوت د ملي خپرونې د محتوا سره موافق یاست نو موږ د دې جوګه کړی چې د دعوت میډیا خپرونې او دعوت خپرونه د نړۍ او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه ناامیده هیوادوالو له پاره د امید ډیوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله یې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چیرته چې افغان وي هلته دعوت وي یانې دا چې ډیرو هیوادوالو ته دعوت ورسیږي او زموږ هڅې به هله بیځایه نه وي چې یو زیات شمیر هیودوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسیدل ستاسو درنو هیوادوالو او د دعوت مینه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هیله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په لیکل شوې پته راواستوئ:
د بانک او یا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.
یو ځل بیا وایو :

((دعوت میډیا د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي ډلې نمایندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت میډیا د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپرونې کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د پخوا نه زیات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتیا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه

د دعوت اداره

# دعوت رسنیز مرکز

## ستاسو او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپریږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازیتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ریښتینی غږ او د هغو له پاره خپریږي څوك چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو لیکنو مسئولیت د درنو لیکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره لیکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway

**Tel. +47-63844384**
**Mobil: +47-90856195**
**ISBN: 978-82-691395-2-5**
**Orgnr (Reg#): 985160058**
**د انټرنت په نړیواله شبکه زموږ ویبپاڼه:**
**www.dawatmedia24.com**
**زموږ د بریښنا لیک پته:**
**dawatmedia@gmail.com**
**د دعوت بانکي پته:**
**DNB Bank AC # 0530 2294668**
**له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب**
**Bic (SWIFT-addressee): DNBANOKKXXX**
**A/C for international payments:**
**NO15 0530 2294 668**
**د ویپس شمېره Vipps: #557320**

### څنګه کولی شئ د دعوت مېډیا مالي مرسته وکړی:

خپلې مرستې (پیسې) د دعوت په پاسنئ پوستی بانکی یا پته راولیږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لاښه پرمختګ زیری دی. هر افغان باید تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئولیت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

## داکتر میر عبدالرحیم عزیز در مصاحبه با دعوت:



# نظام طالبی زمانی میتواند مشروعیت خود را در سطح ملی و جهانی بدست آورد که ارادۀ مردم را تمثیل نماید

**بزگر: علت سقوط نظام در افغانستان بدست طالبان در ماه اگست سال گذشته به نظر شما در چیست؟**

**داکتر میر عبدالرحیم عزیز:** تجاوز بیگانگان به یک کشور مقاومت ملی را خلق میکند که میتواند این نوع مقاومت ها نظر به شرایط هر کشور متفاوت باشد. تحمیل یک نظام فاسد دست نشانده توسط اجانب به بهانه های فربینده مانند تعمیم دموکراسی و یا سوسیالیسم به هیج وجه نمیتواند جلو مبارزات ضد استعماری را بگیرد. همچنان نقش تعمیم فساد در یک کشور سیر مبارزات را سریع تر میسازد. تشویق تعصبات قومی، زبانی و نژادی بدون تردید سقوط یک نظام را سرعت می بخشد. ما همه این علایم نا خجسته را در سقوط نظام فاسد دست نشاندۀ غرب در افغاسنتان مشاهده کردیم که یک نظام مزدور بعد از 20 سال بردگی با چه افتضاحی در خلال کمتر از یک ساعت نابود شد.



**بزگر: آنهاییکه تا دیروز در چوکی های بلند نظامی بودند، امروز از مقاومت گپ میزنند، به نظر شما چرا آنها وقتی که همه امکانات نظامی در اختیار شان بود استفاده نکردند که امروز داد از مقاومت میزنند؟**

**داکتر میر عبدالرحیم عزیز:** فراریان حالا از مقاومت حرف میزنند، در حالیکه چنان به سرعت فرار کردند که در تاریخ جهان این نوع بزدلی نظیر نداشته است. تصور نمیشود که این بزدلان و بی هویتان بتوانند آبرو و اعتبار از دست رفته را نزد ملت افغان دوباره بدست آورند. اما نباید فراموش کرد که استعمار همیش در کمین نشسته و از همچو افراد فاسد و بی هویت هنوز هم استفاده می نماید و بعید هم ندانید که روزی کرزی، عطا، غنی، برادران مسعود و یا دوستم با شعار های نوساخته دوباره بر شانه های مردم لنگر اندازند.

**بزگر: آنهاییکه به عوض بیرق ملی، بیرق تنظمی را بلند بلند میکنند، ادعای مقاومت ملی کرده میتوانند؟ همه اشرف غنی را فراری و خاین خطاب میکنند، اگر بپذیریم که اشرف غنی خاین بود چرا بسم الله خان وزیر اسبق دفاع، امرالله صالح معاون اول ریس جمهور، احمد ضیا سراج ریس امنیت ملی و دیگران که به گفته خود شان مردم اهل و وطنپرست بودند، مقاومت نه کردند و از افغانستان و مردمشان با همه امکانات که داشتند دفاع نکردند؟ و چرا تنها اشرف غنی فراری و آنهای دیگر ترک کننده گان اند؟**

**داکتر میر عبدالرحیم عزیز:** بیرق ملی سمبول ملی افغانستان است و هیچ فرد و یا گروهی ( به شمول طالبان) حق تعویض آن را با بیرق های تنظیمی و فرقه ئی ندارد.

فراریان اکثراً مربوط به تنظیم های تجزیه طلب جهادی اند که همیش در بربادی افغانستان دست داشته اند. فعالیت های ضد میهنی این فاسقان که دست قوی در نظام گذشته داشتند، نقش خود را در انهدام این نظام فاسد داشت. گروهی به اصطلاح مقاومت ملی که هیچ زمانی ملی نبوده همیش در خدمت اجانب قرار داشته و به دستور اجانب عمل نموده اند. این گروه ها ار بیرق ملی سخت نفرت دارند و آن را مانع برتری جوئی و حاکمیت خود میدانند.

خاینان بار ملامتی را بر یک دیگر می اندازند تا ذهنیت عامه مغشوش نگهدارند. گروه شرمسار و بی ننگ شورای نظار و جمعیت اسلامی می خواهند در شکست مفتضحانۀ خود تنها غنی را متهم سازند. غنی آخرین فردی بود که فرار نمود. امراالله صالح، دوستم، عطاء، قانونی، برادران مسعود، محقق و خلیل و ده ها دیگر این میهن فروشان قرار را به قرار ترجیح دادند. بسم الله خان وزیر دفاع نظام گندیدۀ گذشته که هیچ زمانی امر غنی را قبول نمیکرد و صرف از آمران امریکائی اطاعت میکرد، می توانست که با قوای چند صد هزار نفری اش مقاومت نماید. اما جانانه فرار نمود. بلی، این عُمال استعمار مانند غنی خائن به کشور بوده اند .

بزگر: نظر شما در مورد حاکمیت و تسلط طالبان بر کشور چیست؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: حاکمیت به مردم تعلق دارد و غیر قابل تقسیم است. نه شاهی، نه امیری، نه سلطانی و نه رئیس جمهوری حق عضب حاکمیت مردم را دارد. یک نظام زمانی میتواند بیشتر مشروع گردد که موافقت مردم خود را داشته باشد، در غیر آن مقاومت های مردمی علیه نظام آغاز خواهد شد که مثال آن را در 20 سال گذشته مشاهده کردیم. نظام طالبی زمانی میتواند مشروعیت خود را در سطح ملی و جهانی بدست آورد که ارادۀ مردم را تمثیل نماید که این خود اعتبار جهانی اش را هم بالا خواهد برد.

بزگر: در شرایط فعلی بعضی ها راه حل را نظام فدرالی در افغانستان میدانند، شما در این مورد چه نظر دارید؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: نظام فدرالی به هیچ وجه راه حل برای یک افغانستان واحد نیست، بلکه باعث تجزیه و بربادی کشور میشود. شعار فدرالی ار حلقوم تجزیه طلبان خارج میشود که می خواهند روزی افغانستان را عمداً به سوی نابودی کامل یکشانند. نیستی افغانستان آرزوی دیرینۀ ایران و پاکستان است. اگر به دقت ملاحظه شود افراد و گروه هائی که از فدرالیسم دفاع میکنند به یک نوعی وابستگی سیاسی و مذهبی با اجانب دارند. در افغانستان کنونی، آوردن نظام فدرالی به معنی محو کامل کشور ماست. ناگفته نباید گذاشت که فدرالیسم ارتباطی با دموکراسی ندارد. موسسات سیاسی کشور های غیر فدرالی مانند فرانسه، ایتالیه، سویدن، ناروی و ده های دیگر به مراتب دموکراتیک تر نسبت به امریکا اند. نظام غیر دموکراتیک روسیۀ و دولت فاشیستی پاکستان هم خود را فدرال می خوانند.

بزگر: قهرمان ملی به نظر شما کیست و تعریف قهرمان ملی از نظر شما چه میباشد؟



داکتر میر عبدالرحیم عزیز: قهرمان ملی کسی می تواند باشد که کمترین خاینتی به میهن و مردم خویش مرتکب نشده باشد و معاهدات مخفی و علنی با متجاوزین عقد نکرده باشد. بنابران، افرادی بی هویت و ضد ملی مانند حامد کرزی، احمد شاه مسعود، غنی، عبدالله عبدالله، دوستم، گلبدین، حکمتیار، سیاف، محقق، خلیلی و ده های دیگر هرگز قهرمان ملی بوده نمی توانند. باید خاطر نشان ساخت اعطای لقب قهرمان ملی بیشتر از جانب بیگانگان و قوای استعماری به فرد مورد نظر شان تفویض میگردد.

بزگر: در مورد پول های زخیره افغانستان در امریکا و حق تسلط و تقسیم ان بدست امریکا به نظر شما چگونه میباشد؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: پول های ذخیره شدۀ افغانستان در امریکا ملکیت مردم افغانستان است، نه از طالبان. غضب این پول دزدی به سویۀ جهانی توسط قدرت اول جهان است که پول مردم ما را به سرقت میبرد. این عمل امریکا با تمام نورم های جهانی در مغایرت است. امریکا میخواهد انتقام شکست ذلت بار خود را به این نحو از مردم ما بستاند.

بزگر: برای یک حکومت ملی و مردمی در افغانستان که ممثل اراده اکثریت مردم افغانستان باشد به نظر شما چه باید شود؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: طوریکه در بالا خاطر نشان ساختم، حاکمیت به مردم تعلق دارد و مردم حق دارند در تعیین سرنوشت خود سهیم گردند و رای بدهند. برای اینکه یک نظام بتواند مشروعیت حاصل نماید، باید پایه های مردمی اش تحکیم یافته و حمایت قاطبهٔ ملت خود را داشته باشد. بنابران، در مرحلهٔ اول تشکیل یک اجماع ملی حتمی است تا زمینه را برای انتخابات و استقرار یک نظام با قاعدهٔ وسیع که ممثل همه مردم باشد، آماده سازد. هیچ نظام تحمیلی نمیتواند خود را برای مدت طولانی بر مردم تحمیل نماید. این تجربه تلخ را بیش از 40 است که مردم نگون بخت ما پشت سر گذاشته است.

بزگر: ضرورت های اولیه مردم افغانستان در شرایط فعلی چیست؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: در حال کنونی، مردم باید از امنیت، اقتصاد سالم، غذای کافی، فضای سالم کار، تعلیم و تربیه، آزادی های معقول فردی و تطبیق مساوات و عدالت اجتماعی برخوردار باشند. طالبان باید با مردم خویش و جهان کنار بیایند تا زمینه برای نشو نمای فرزندان کشور به وجه احسن تأمین گردد.

بزگر: مسئولیت هر افغان میهن دوست در قبال مردم و افغانستان در شرایط فعلی چیست؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: هر افغان با احساس میهن دوستی، بدور انداختن تعصب (از هر نوعی که باشد) و دوری از خدمت به اجانب میتواند سهم عمده در قبال مردم و کشور خود داشته باشد. در غیر آن حق انتقاد را نخواهند داشت.

بزگر: به نظر شما افغانهای خارج از کشور چطور میتوانند در شرایط دشوار فعلی در داخل کشور مصدر خدمت به هموطنان خود شوند؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: هم میهنان ما در خارج از کشور که خود قربانی خیانت یک مشت خاین به کشور و تجاوزات بیگانگان شده اند، میتوانند از فاصله ها دور در خدمت مردم خود قرار گیرند. با سهم گیری ایشان از طریق موسسات بشری، سفر ها به داخل کشور و تماس با مردم خویش، اعطای کمک های مالی به مردم طبق توان، انتقال دانش به نسل نو، کمک به بازسازی کشور و ده ها راه سالم دیگر میتوانند خدمات ارزنده برای مردم خود انجام دهند. اما آنهم به شرطی که سهمگیری شان بی شائبه بوده و مانند تعلیم یافتگان چپاولگر 20 سال قبل نباشد.

بزگر: اینده افغانستان را چطور میبینید؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: بسیار مشکل است که آینده افغانستان را طور دقیق پیش بینی نمود. اما میتوان بعضی نکات را در سطوح داخلی و جهانی مورد نظر قرار داد:



هر نظامی که باشد، باید مشروعیت داشته باشد و مشروعیت از مردم بدست می آید. تا زمانیکه یک نظام در سطح داخلی مستحکم نگردد، همیش دستخوش حوادث داخلی و جهانی میشود و زمینه برای تجاوزات بیگانگان مهیا می گردد. هر نظام مستقر در افغانستان باید بداند که در جهان امروز مانند 100 سال قبل نمیتواند حکمروائی نماید. بااین درک سالم، آینده افغانستان را روشن می بینم، در غیر آن حالت نکبتبار کنونی تداوم خواهد یافت.

بزگر: نظر شما در مورد مرکز نشراتی دعوت (ناروی) چه میباشد و ما (دعوت میدیا) چطور میتواند به شکل بهتر خدمات مطبوعاتی تقدیم جامعه افغانی در داخل و خارج از افغانستان کند؟

داکتر میر عبدالرحیم عزیز: مرکز نشراتی دعوت خدمات قابل قدری برای مردم خود در خلال سالیان نشراتی اش انجام داده است. با استفاده از تکنالوژی، تجارب گذشته و تحقق آرمانهای مبارزاتی غرض خدمت به مردم و کشور، دعوت میتواند صدای خود رساتر بلند نماید و مردم را بیشتر متوجه مسئولیت های تاریخی شان سازد. من این توانائی را در شما دوست عزیز و سائر همکاران دعوت می بینم. به امید موفقیت دایمی شما.

# تاریخ ولې ضروري دی؟

لیکوال: ډاکټر مبارک علي
ژباړن: هارون شفیقي

په ټولنه کې د یوه علم یوې برخې ته هغه مهال اهمیت ورکول کېږي چې ګټه یې ټولنې ته اړینه وي، ځکه چې د ټولنې اړتیاوې بدلېږي او دا اړتیاوې نوې لارې چارې غوره کوي، نو ضروري ده چې علم هم له دې سره سره بدل شي.

تر څو هغه په بدلو شویو حالاتو پوه شي او د نویو پیدا شویو مسایلو لپاره د حل لار ومومي، له همدې کبله کله چې موږ د تاریخي شعور خبره کوو هدف مو همغه د تبدیلۍ شعور وي او همدا د تبدیلۍ شعور د تاریخ مضمون ته اهمیت ورکوي.

زموږ په ټولنه کې د تاریخ مطالعه د دې لپاره نه کېږي چې د بدلېدونکو حالاتو څېړنه پرې وشي، بلکه محض د تفریح په توګه پر ماضي پوهېدل دي.

همدا ده چې تاریخ زموږ په ټولنه کې ګټور نه ګڼل کېږي د ژوند د عملي اړتیاوو او د ټولنې په جوړښت کې هغه اړین نه ګڼل کېږي، دلته دا پوښتنه ولاړېږي چې آیا تاریخ زموږ د ټولنې د اړتیاوو د پوره کولو جوګه دی؟ که دی نو تر اوسه ولې کار نه دی ترې اخیستل شوی؟

د تاریخ یو هغه اړخ دی چې زموږ په تعلیمي ادارو کې تدریسېږي، له دې مخې دا یوازې یو سیاسي هدف دی، د دې محدودې نظریې له مخې تاریخ په ټولنه کې ګټور علم نه ګڼل کېږي، د تاریخ دوهمه برخه اخلاقي نصیحت دی چې په دې برخه کې تاریخ د ثواب لپاره لوستل کېږي او توقع کېږي چې له دې لارې د ټولنې اخلاقي مسایل حل کړای شي..

د تاریخ دې تنګ سیاسي او مذهبي استعمال د تاریخ اهمیت نور هم کم کړی دی.

د تاریخ هدف باید څه وي؟ تر ټولو مهم هدف دا چې ټولنه د تاریخ په ذریعه ټولنیز شناخت (پېژندنه) وکړي، دا شناخت هغه مهال امکان لري چې د ټولنې غړي د یو بل په هکله بشپړ معلومات ولري، لکه څرنګه چې زموږ ټولنه په طبقو وېشل شوې، همداسې په ذاتونو، فرقو او قومونو هم وېشلې ده.

د کلي او ښار په ژوند کې توپیر دی، د ژبې، عاداتو او جغرافیایي توپیر دی، په داسې حالاتو کې د علم د کمۍ په سبب له یو بل نه پوره واقف یا خبر نه دي او دا ناخبري نه یوازې دا چې دوی له یو بل نه سره لرې کوي، بلکه په دوی کې کرکه او تعصب زېږوي، د مثال په توګه زموږ په وړاندې د (خانه بدوش) کوچیانو په هکله معلومات ډېر محدود دي. اکثر موږ دوی له ښار څخه بهر په ځنګلونو او وېجاړو ځایونو کې سرګردانه وینو او چې څه د دوی په هکله اورو د همغې له مخې پر دوی قضاوت کوو.

د دوی د ژوند او عاداتو  په هکله د کم علمۍ له کبله د دوی پر خلاف بدګومانۍ راته پیدا کېږي

همداسې د مذهبي او قومي ډلو تر منځ هم پېښېږي، چې له کبله یې له یو بل څخه بېلتون زېږي.

دلته تاریخ کارولی شو، که د دې کوچیانو تاریخ ولوستل شي، د دوی رواجونه او عقاید وڅېړل شي او د دوی سم تصویر ټولنې ته وړاندې شي په دې صورت کې به نه یوازې بدګومانۍ لرې شي، بلکې دوی ته به د ورنږدې کیدو سبب هم شي.

همداسې د مذهبي ډلو او مختلفو فرهنګي ټولنو په هکله هم کېدای شي. تاریخ د دوی ټولو په یو ځای کولو سره د ټولنې شناخت (پېژندنه) جوړوي، کرکه او تعصب له منځې وړي او د نږدې کېدو سبب ګرځي.

د تاریخ له لارې که چېرې د وېشل شویو، تقسیم شویو خلکو په یو ځای کولو کې مرسته کولای شي، په څنګ کې یې د نورو قومونو او ټولنو تر منځ هم آهنګي پیدا کوي.

د انساني ټولنې تر ټولو لویه کمزوري دا ده چې پر خپل معیار د نورو اخلاق، مذهب  او د ژوند طرز ګوري او کله چې تضاد ور تر سترګو شي نو هغه د دې په تاریخي اهمیت له پوهېدو پرته د غلط تور پرې لګوي. د مثال په توګه مسلمانانو ته د هندوانو اداب یوازې خرافات ښکاري، خو که د لرغوني هند تاریخ ولوستل شي او په دې پس منظر کې د دوی رسوم، روایات او اداب وکتل شي چې دا په کومو حالاتو کې پیدا شوي او دې اداتو له تاریخي لحاظه د ټولنې کوم ضروریات بشپړ کړي، موږ په دې صورت کې د هغې له اهمیته خبرېدای شو او یوازې په همدې صورت کې زموږ تعصب لرې کېدای شي..

له دې امله تاریخ نه یوازې تعصبات او کرکې له منځه وړي بلکې ذهن پراخوي او قومونه سره نږدې کوي

د تاریخ کار دا نه دی چې پرېکړه وکړي چې کوم مذهب ریښتینی او تل پاتې دی، بلکې کار یې دا ده چې د هر مذهب او نظریې د زېږېدو تاریخ وڅېړي او اهمیت یې ووایي تر څو د هغې د تاریخي کردار په پوهېدو کې آساني وي.

یو وخت و، چې د انسان لپاره دا نړۍ ډېره وړوکې وه، هغه چې په کوم ښار، کلي او بانډو کې اوسېدل هماغلته به یې ټول ژوند تېراوه، چې له کبله یې تجربې ډېرې محدودې وې او ډېرې معلومات یې د افواهو او غلطو کیسو پر بنسټ ولاړ وو. بل لوري ته ننۍ نړۍ ډېره پراخه شوې او ورسره د انسان ذهن هم پراخ شوی، اوس دا د تاریخ وظیفه ده چې د نړۍ د قومونو، ملکونو او ټولنو په هکله کره او بشپړ معلومات وړاندې کړي، تر څو دوی سره نږدې شي، ځکه تاریخ انسان ته یوازې د انسان په حیث ګوري د هغه له مذهب، نسل او رنګ سره کار نلري.

د تاریخ تر ټولو لویه ګټه دا ده چې د ټولنې یادښتونه په ټولیزه توګه خوندي کوي، د یوه کس یادښت کمزوری وي او له دې سره ټولنه هم یوه پېښه ژر هېروي، که دا پېښې د تاریخ په ذریعه خوندي نشي نو ټولنه دا تجربې که ښې وي که بدې هېروي یې.

د همدې نتیجه شوې چېرته چې نوی تاریخ نه دی پیل شوی او د هغه ځای عام وګړي ړانده ساتل شوي هلته په سیاسي ډګر هماغه کسان ډګر ته راوځي چې په ماضي کې په ډول ډول جرمونو ککړ وو، هماغه سیاسي حزبونه چې د قدرت پر مهال یې پر خلکو ظلم کړی وي، بیا ځلي د عوام دوستۍ شعار پورته کوي او قدرت تر لاسه کوي.

د دې یوازینی سبب همدا دی چې تاریخ د دوی کردار او اعمال نه ثبتوي او عوام خپل غمجن پرون هیروي او غولېږي. یوازې د تاریخ له لارې د دې عمل مخنیوی کېدای شي او د داسې حزبونو سره حساب کېدای شي.

او تر ټولو غوره دا چې د تاریخ له لوستو سره ټولنې ته د خودآګهی (ځان څخه خبرېدل) احساس پیدا کېږي، هغوی پر دې پوهېدای شي چې د نورو ټولنو په مقابل کې دوی په کوم مقام کې دي. له تاریخ څخه ښکاري چې ټولنې د کومو برخو او مسایلو پر بنسټ پرمختګ کوي او د کومو له مخې د پرمختګ لارې پرې ترل کېږي.

د ماضي ترجمه د دوی لپاره د نوې آیینې په څېر وي چې په هغې کې خپل رفتار او عمل لیدلای شي. د ځان څخه خبرېدو یا د (خود آګهۍ) همدا احساس د ټولنې په پرمختګ کې مرسته کوي.

# د ثواب او عذاب نیمګړی تفسیر

زبیر افغان

د دیني تفسیر له زاویې زموږ د ثواب او عذاب تفسیر خورا ډېرې نیمګړتیاوې لري. زموږ واعظین د وینا لپاره مناسب کسان نه دي، نه یې د وینا طرز د ویناوال دی نه یې معلومات د دې دي چې د وینا پر سټېج/منبر دې ودرېږي، نه د وخت او حالاتو موافق موضوع انتخابولای شي، نه د ثواب او عذاب په بیان کې انډول ساتلای شي او د ګڼو نورو ستونزو ترڅنګ د ثواب او عذاب تفسیر یې له بې انډولۍ سره سخت نیمګړی هم وي.

نیمګړتیا یې دا وي چې د ثواب او عذاب په اړه راغلي نصوص یو د بل تر څنګ نه ږدي، د دې نصوصو په تفسیر کې د دین اوشریعت عمومي محتوا ته پام نه کوي، د اسلام اساسي پیغام له نظره وباسي او که د ثواب په اړه یوه جمله په درست ایت یا حدیث کې راغلې وي یا د عذاب، دوی یې سیاق و سباق نه ورسره ګوري، بس د همدې یوې جملې مفهوم بیان کړي او پسې ټاپه یې کړي. که دغه کار دې وکړ جنت ته ولاړې او که دې هغه کار وکړ، بېرته راووتې دوزخ ته ولاړې!!!
خطیب صاحب مبارکه! دغه ایت یا حدیث یوازې یوه کړۍ ده؛ یوه کړۍ له درست ځنځیر پرته بې معنا ده، کړۍ خپل ښه کار هغه وخت کوي چې له نورو کړیو سره وتړل شي، نو پوره ځنځیر ځنې جوړېږي او خورا ډېر کارونه ترسره کولای شي.

دغه هر ایت او حدیث به هم وړل کېږي، له خپل ځنځیر سره به یوځای کېږي؛ لکه یوه کړۍ چې د تړلو لپاره کار نه شي ور کولای، همدغه ډول یو ایت یا حدیث د جنت او دوزخ په پرېکړو کې هم کار نه شي کولای. په شریعت کې اصولي او اساسي موارد باید له جزي او فرعي مواردو څخه بېل کړل شي. له جزیاتو او فروعاتو سره تړلي نصوص په یوازې سر نه تفسیرېږي، که یې تفسیر کړي ناسم تفسیر به یې وړاندې کوي. د شریعت اصول به هر ویناوال و خطیب ته معلوم وي، که د فروعاتو یا جزیاتو خبرې کوي هیڅ نص به داسې نه تفسیروي چې له اصولي موضوعاتو سره ټکر وي، زموږ د یناوالو یوه لویه غلطي همدا ده چې خلک یې په وړو شیانو خوشاله کړي وي، بیا نو د بل حق دی نه ګڼي لکه تنزیهي مکروه. بل لور ته یې د ټلویزیون پر کتلو دومره سخت عذاب بیان کړی وي چې د خلکو یې هیلې ور مړې کړې وي خو د اخلاقیاتو، انسانیت او په ورین تندي له خلکو سره مخامختوب به یې نه وي ور ښودلی. تسبیح ویل د یوه سړي شخصي کار دی، اما په معامله کې ناغېړي یې ټولنې ته زیان دی، تر تسبیح زدکولو لومړی د بل حق ور ښودل او ګنا یې بیانول اړین دي، عینن د ټې وي او اخلاقیاتو مسله ده؛ که یو څوک ټې وي ګوري خپل کار یې دی ټولنې ته یې زیان نه دی رسولی، په خپل کور کې په خپل مصرف یې له خلکو پټ ګوري، اما د بده اخلاقه او بد خویه انسان خو ټولنې او ځان دواړو ته غبرګ تاوان رسېږي.

د جنت اسباب دي که د دوزخ دا یو له بل سره قوي یا نسبتن ناقوي ارتباط لري؛ که یو څوک لمونځ کوي خو د یتیم حق نه ور کوي، دا ښه سړی دی؟ که یو څوک غل وي، خو پایڅې یې تر نیمایي پنډۍ پورته کړې وي، دا جنتي دی؟ یو څوک نفلي روژې نیسي، اما په کور کې یوه خبره سمه نه کوي، تل یې سوټی په لاس کې وي او خپل کورنیان ډبوي، دا بزرګ دی؟ بل سړی په جګه غاړه حج ته روان دی، له حجه چې راشي له کور سره مسجد جوړ کړي، کله ناکله د یوه ګاونډي کره یو خیرات هم ور لېږي، خو پیسې او ګټه یې ټوله د قاچاقو ده؛ دا د جنت مستحق دی؟!

یوه بله ستونزه په ټولنه کې د لومړیتوب د نه رعایت ده، همدغه د ثواب او عذاب ویناوال چې له یوې خبرې سره یې د جنت کیلي په لاس کې وي، له بلې سره یې د دوزخ هغه تیاره درته نیولې وي، دا نه فهموي چې اخلاقیات مهم دي که دغه د جنت او دوزخ کیلیانې؟ معاملات لومړیتوب لري که سبحان الله خلکو ته ورښودل؟ له قتل او غلا خلک رامنعه کول د ټولنې په خیر دی که له ټې وي کتلو؟ د کرکېټ بدي خلکو ته بیانول ډېر اړین دي که د یوه ملت د عامه شتمنیو د ورانولو، غلا و چور د بدۍ بیان؟

د اختر او جمعې خطبې تر ډېره حده سیاسي بڼه لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم پکې د سیاست او ادارې په اړه خبرې کولې، د وخت امیر او امیرانو به دا کار کاوه، ورو – ورو د امیرانو چارې زیاتې شوې، یو څه یې اعمال هم داسې شول چې خلکو یې تر شا لمونځ کول نه خوښول او بل یې پوهه هم دومره نه شوه پاتې چې خلکو ته بیان وکړي؛ نو منبر له سیاسته ازاد شو او د ناسیاسي اشخاصو لاس ته ورغی چې د امیرانو تر ستونزو یې ډېرې ستونزې وزېږولې. اوس یې حل دادی چې خطیب باید د دولت له لوري معرفي شي، تنخوا او منفک کېدل یې په دولت اړه لري، د بیان لپاره به یا لیکلې خطبې ور کوي یا به حدود و چوکاټ ورته ټاکي چې له دې حدودو به د خپلې وینا مهال نه وزي.

زموږ بدمرغي داده چې دولتونه مو پر هغه ځای نظارت نه کوي چې د ټولنې د خرابۍ او د ښه والي اساسي مرکز دی؛ پر یوه سنتي مذهبي ټولنه د منبر او مسجد اغېز دومره زیات دی چې بل هیڅ شی ورسره پرتله کېدلای نه شي. د مسجد امام او د منبر خطیب که

د یوې ټولنې په خیر کار وکړي، هغه ټولنه به نیکمرغه کړي او که یې بدبختۍ ته لاس واچاوه، بدمرغه کوي یې. دومره مهم ځای بې څارنې او ارزونې ایله کول نه بشري اخلاق ایجابوي، نه قانون او نه هم شریعت.

حالات، ځای، وخت، نظام او ټولنه د خپلو ګټو او زیانونو لوری بدلوي را بدلوي، مثلن: کله یوه ټولنه بشري قوې ته اړتیا لري او کله یې تر اړتیا زیاته وي؛ که دولت او ټولنه ورته اړتیا لري باید خلک دې ته وهڅول شي چې اولادونه ډېر کړي او که په سرخوړي ورته بدلېږي، بیا دې د کمولو توصیه ورته وکړي.

د اولاد زیاتولو مطلقې توصیې زموږ ټولنې ته په زیان هم تمامېږي، د زیات اولاد راوړلو په اړه راغلي احادیث دوی نه دي کتلي چې دا په کومو شرایطو کې ویل شوي دي؟ داسې خو امکان نه لري چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دې له ټولنې سره تړلي دومره مهمه موضوع له هر ډول ارتباط، مخکې او وروسته کلام پرته ویلې وي؛ نو د دې وینا نوره برخه چېرې ده؟ ولې یې کړې ده؟ په دې اړه نور نصوص څه وایي او اصحابو کرامو په نبوي دوران کې له دې موضوع سره څه ډول چلند کړی دی؟ د دې حدیث سند په کوم حال کې دی؟ ایا دا خبره په همدې سند تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې رسېږي؟

بل اړخ یې دادی چې اوس زموږ د ټولنې په خیر د زیاتوب توصیه ده که د کمې؟ حالات کوم ډول توصیه ایجابوي؟ دولت او ټولنه د دې لپاره څه کوي؟ که ټولنه او نظام دې د زیاتو کسانو بوج نه شي پورته کولای، د تعلیم غم یې نه خوړل کېږي، خوراک ورته نه رسېږي، کار یې نه پیدا کېږي، د یوې ګولې لپاره یا نړۍ والو ته زارۍ کوو چې موږ له لوږې مرو کومک راسره وکړئ یا هم د کډوالو سیلابونه نورو هیوادونو ته روان وي، دا اولاد چې ډېر شي مور و پلار، ټولنې، وطن، نظام، دین، شریعت او بالاخره په قیامت کې به یې رسول الله صلی ته څه ګټه ورسېږي او هغه به یې په کومه کارنامه ویاړ وکړي؟ د نورو امتونو په نسبت خو یوازې ډېربښت د ویاړ لپاره کافي نه دی، که ډېر وي او قاتلان وي، غله وي، خدای ناترسه وي، له دینه لرې وي، بد اخلاقه وي، بې تعلیمه و تربیې وي، کار نه لري، ژوند یې په فقر تېر شوی وي، جنت ته د تلو لپاره ورسره هیڅ نه وي خو د دوزخ لپاره یې ښه ډېره تیاري کړې وي؛ په دې امت به رسول الله صلی الله علیه وسلم د تېرو امتونو مخ ته ویاړ وکړي که به د امت پر حال افسوس؟! اولاد ډېر کړئ! ثواب وګټئ که بند یې کړئ ګنهګار به شئ؛ نور د ټولنې ظرفیت په پام کې نه نیسي، حالات نه سنجوي، د نصوصو روایت او درایت ته نه ګوري، د تعلیم، خوراک، جامې، کار، روزنې، ګټې او بالاخره دنیا کې د بري اسباب او د اخرت د بریا اسباب یې نه سنجوي، راوړل یې پر دوی دي نور دې پر لار خدای برابر کړي، په داسې حال کې چې د هدایت، ګمراهۍ، ګټې وټې، زیان، تعلیم، روزنې او هر څه په اړه د خدای اصولو بیخي واضح دي، تر دومره وضاحت وروسته د خپل اولاد روزي، تعلیم، کار، اخلاق، ګټه وټه، په دنیا ا اخرت کې بری د الله لور ته حواله کول د هغه له دینه ناخبري ده، زموږ خلک دغې ناخبرۍ ته د توکل نوم ور کوي په داسې حال کې چې د خدای په دین کې د دغه توکل یوه نمونه او یوه لاربښونه هم نه شته.

۲۵/۲/۲۰۲۲۰

---



## ټوکه که رښتیا؟

**نن مې یو دوست یوه ټوکه وویله چې تاسو درنو سره یې شریکوم. نور تاسو وواياست چې دا به ټوکه وي که رښتیا؟**

**د شیطان له مشره پوښتنه وشوه چې د هرې اوونۍ په اوو ورځو کې څه مصروفیتونه لرې؟ د شیطانانو مشر وویل: هره اوونۍ یوه ورځ اروپا ته ځم، یوه ورځ امریکې ته او یوه ورځ استرالیا ته.**

**بیا ترینه پوښتنه وشوه دا څلور ورځې نورې څه کوې؟ په ځواب کې د شیطانانو مشر وویل: د هرې اوونۍ دا څلور ورځې د پاکستان په پنجاب کې لوړې زده کړې کوم.**

**یوه ورځ په ریونډ کې، یوه ورځ په منصوره کې او دوه ورځې د ای اس ای ISIپه روزنیزو مدرسو او مرکز کې.**

# نامعلوم حالت، د مشر په توګه دا شپږ کړنلارې وکاروئ

قدرت الله هېوادپال




زموږ ژوند په دوامداره توګه له بدلونه تیریږي، او د مشر په توګه تاسې د دې بدلون، ابهام او پیچلتیاوو کچه نشئ کنټرولولای. پدې لیکنه کې موږ له شپږو لارو چارو یادونه کوو چې کولای شي له تاسې سره مرسته کوي تر څو لدې پیچلتیاوو پر اغیزمنه توګه تیر او لاسته راوړلې زده کړې او تجربې راتلونکې کې وکاروئ.

هره زده کړه نارامي لري، نو لومړی ګام له دې نارامۍ سره آرامه کیدل دي. د مشر په توګه باید له (پر هر څه پوهیږم) څخه (هر څه باید زده کړم) فکر ته ولاړ شئ. دې فکر ته تګ په خپله له تاسې سره مرسته کوي تر څو پر هر څه پوهیدو فکر له فشار او نارامۍ څخه د زده کړې فکر او آرامۍ ته راشئ.

سره لدې چې ډیرو ښايي فکر کاوه چې ژوند یو اړخیزه او منظم شوی دی، خو د نړدې وختونو روغتیايي، سیاسي او اقتصادي بدلونونو وښوده چې موږ اوس هم په نامعلومه حالت کې ژوند کوو، او د بدلون او له هغې سره تړلو پیچلتیاوو امکان له هر څه ډیر دی.

اکثره خلک په ځانګړې ډول مشران ښايي فکر وکړي چې موږ د خپل ژوند یا دندې د بدلونونو سره د معاملې او ترې وتلو لپاره اړونده وسایل او مهارتونه نه لرو، یوه نوی څیړنه وایي چې د نن زمانې ګړندیو بدلونونو او ټکنالوژیو او دوامداره پرمختګ له کبله د پیدا کیدونکو پیچلتیاوو ته د انسان ذهن تیار نه دی، موږ له وړوکوالي له دې فکر سره رالویږو چې هر بدلون راځي تاسې ته به د فکر وخت درکوي، ورسره به د خپلې پریکړې ښه او بد ارزوئ او یوه لار به ټاکئ، خو نن دومره وخت نه لرئ.

نن باید سمدلاسه پریکړه وکړئ، او ورسره له دې اندیښنې سره وپایاست، چې پریکړه مو سمه ده یا نه، ځینې وخت به پر دعاوو روان یاست چې پریکړه مو سمه راوځي.



نورو ته له لار ښودو او مشرۍ وړاندې مشران باید خپل ځان سمې لار ته برابر کړي. سره لدې چې هر څوک ښايي ځان لپاره پخپله لار وټاکي، خو داسې شپږ عمومي لارې چارې شته چې تاسې سره په دوامداره زده کړه، بهترۍ او ډیریدونکو پیچلتیاوو سره د معاملې توان درکوي.

## ۱ .له نه پوهیدنې سره ځان بلد کړئ

که له چا سره مو سیاسي یا دودیز بحث کړی وي نو پوهیږئ چې څو ساعته به سره وغږیږئ خو یوې نهایي غوښې نتیجې ته به سره ونه رسیږئ، موږ ته له وړوکوالي ښودل کیږي چې تل باید غوښ، څرګنده او سم ځواب ولرئ، موږ ذهناً دې ته تیار نه یو چې د بیلابیلو اړخونو نظرونه واورو او فکر وکړو چې ښايي ټول سم وي.

د همدې فکر په رڼا کې کله چې موږ له ابهام او نامعلومه حالت سره مخ شو، چې څرګنده ځواب ونه لري نو د فشار لاندې راځو، ناراحته کیږو. دا حالت عموماً هغوی لپاره ستونزمن وي چې په ژوند کې ځان بریالي بولي او فکر کوي چې تل سم ځواب ته رسیدلي دي. سره لدې چې انسان په طبعي ډول هڅه کوي ځان له نارامۍ وساتي خو له نارامیو څخه دا ډېره کیدای شي د زده کړې، راتلونکې ودې او په پای کې د بهتره اجراتو او بریالیتوب پر وړاندې خنډ شي.

د دې پر ځای چې له دې احساساتو ډډه وکړئ، موږ باید پر دې احساساتو پوه شو او د زده کړې د پروسې یوه طبعي برخه یې وګڼو.

پر دې احساساتو پوهیدل او ورسره کار کول تاسې پخپله د بریالیتوب پر لور بیایي.

## ۲ .د سخت او پیچلي تر منځ توپیر وکړئ

اکثره وختونه موږ سخت او پیچلی سره ګډوډوو، پداسې حال کې چې د حالاتو له مخې دواړه سره توپیر لري. د بیلګې په ډول د آنلاین خونډتیا او ډیجیټال لاسلیک قانون سخت دی، تخنیکي اصطلاحات لري چې پوهیدل پرې سخت دي، خو پر بیلابیلو برخو یې ویشلای شئ، ماهرینو سره پرې مشوره کولای او په پای کې یو حل ته رسیدلای شئ.

خو، د دې په وړاندې پیچلی ننګونې بیا بیلابیل پر یو بل متکي توکي لري، چې ځینې به یې تاسې ته معلوم نه وي او له وخت سره به بدلیږي. لدې سره، د یو اړخ یا توکي بدلون ښایي په غیر متوازنه توګه حالت بدل او غیر متوقع نتیجې سبب شي. د بیلګې په ډول، سیاسي حالات ډیر متکي توکي لري، ډیرې داسې برخې لري چې هر چا ته معلوم نه وي، هر توکی یې کولای شي بیلابیل اړخونه ولري، چې د یوه شخص سر خلاصیدل پرې ناشوني وي.


پر پیچلي حالت به هر څوک یو نظر ولري خو دا نظرونه د حل پر معنا نه دي، څرګنده جامع حل له ټولو ورک وي. د پیچلیو حالاتو حل، عموماً د کوچنیو یا نسبي حلونو پر پیاده کولو، د همدې کوچنیو حلونو له اشتباهاتو څخه له زده کړې او د دې زده کړو په رڼا کې د نورو کوچنیو حلونو له پیاده کولو، او پدې ټوله لړۍ کې د زده کړې روحیه لرل او له هر حل سره د خپلو سلوکونو، وسایلو او ځان له عیارولو سره راڅرګندیږي.

## ۳ .له پوره والي تیر شئ

هیڅوک پوره نه دي، خو فکر کوو چې هر یو پوره یو، زموږ همدا د پوره والي فکر د حالاتو پر حل تحمیلوو. په پیچلي حالت کې، چاپیریال دوامداره بدلیږي، پداسې حالاتو کې د پوره والي هڅه ناکامه ده. بلکه د پرمختګ په هڅه کې شئ، د اشتباهاتو تمه ولرئ، یوه شئ چې له اړتیا سره سم خپله تګلاره سمولای شئ.

د بریالیو خلکو لپاره، د هغوی د پوره والي احساس، تکبر او پیژندنې فکر (لکه د یوه یا بریالي پر نامه پیژندنه) د هغوی لپاره خنډ کیدای شي. له پوره والي څخه تیریدو لپاره، پر دې پوه شئ چې هیڅ بنده پوره نه دی، او د دې ویرې (چې دا خلک به څه وایي)، (بد به ښکاره شم)، (تاریخچه به مې خرابه شي)، (غلطه پریکړه به وکړم) (ناکام به شم) او نورو، اساس ته ورشئ، دا ویرې اکثره لدې فکر سره مل وي، چې که چیرې زه غلطه پریکړه یا اشتباه وکړم نو ښایي د هغې له پایلو هیڅ را ونه وتلی شم.

د اسلام یو تر ټولو اساسي زده کړه، د شورا او مشورې اصل دی، له اعتباري خلکو سره وغږیږئ، مشوره وکړئ. ناکامي تر هر څه وړاندې د زده کړې یو تر ټولو ښه وسیله ده، اکثره وختونه موږ له ناکامۍ ډیر د خلکو له شرمه ویریږو، هغوی چې ناکام شوي دي اکثرو یې ډیر څه زده کړي دي خو په مسلکي توګه یې استثناً تاوان لیدلی دی. پر دې ویرو او مفکورو حاکمیدل له تاسې سره مرسته کوي چې د پوره والي او د کبر له احساسه تیر شئ، پر لاره د ناکامیو او اشتباهاتو تمه ولرئ او پوه شئ چې دا ناکامۍ د ژوند برخه او د زده کړې پروسه ده.



## ۴ .له ساده کولو او نتیجې ته له ځغلنده منډې تیر شئ

موږ د هر څه ساده کولو او نتیجې ته ژر رسیدو تمایل لرو، د بل کار هر چا ته آسانه ښکاري، هر یو فکر کړي چې د بل ژوند ښه دی، ډیر ګیله کړي چې نور هېوادونه چیرې ورسیدل او موږ چیرې پاتې یو، خو دوی بیا د هغه هیوادونو د زحمتونو او ګډوډیو ستونزمن تاریخ ته نه ګوري.

پیچلیو ننګونو حل لپاره یو تر ټولو ډیره وړاندیز کیدونکی لار د هغې پر اړونده توکو ماتول دي، تر څو پر هره برخه مو سر ښه خلاص شي او حل لپاره یې لاس په کار شئ، سره لدې چې دا کار خپلې ګټې لري خو تر ډیره ښایي ستاسې سترګې د اتکا پر اصلي اړیکو پټې او پام مو یوازې ټاکلیو ساحو ته واړوي. لدې سره، د خپلو ستونزو لپاره د نورو هېوادونو بیلګې راخیستل یا په خپل پخوا کې د ورته بیلګو/ تجاربو لټول ممکن د اوسنۍ ننګونې له ځانګړتیاوو مو غافل کړي.

اکثره بریالي خلک د عمل په لور تمایل لري او هر کله چې شته ننګونې څرګنده حل او د عمل لار ونه لري، نو دوی ډیر ژر ستړي او زړه ماتې کیږي. د دې پر ځای چې ګړندي حل او نتیجې پسې وځغلو، باید د ستونزې پر اساساتو د پوهیدو او خپلو تمایلاتو ارزولو

تر منځ منظم توازن رامنځ ته کړو، او لاسته راوړل کیدونکو معلوماتو په رڼا کې مخ په وړاندې ولاړ شو.

همداسې که چیرې فکر کوئ چې پر خپلو تمایلاتو پوهیدل درته سخت دي، کولای شي له دربیمګړې مرسته وغواړئ، تر څو ستاسې حل او تمایلاتو وارزوي او د اړتیا په صورت کې لازمې مشورې درکړي.

## ٥ .یوازې یې مه کړئ

اکثره مشران چې څومره مخ په لوړه ځي، د شتو ننګونو او پیچلتیاوو پر وړاندې ځان یوازې احساسوي. د یوازیوالي دا احساس نسبتاً لدې فکره هم رامنځ ته کیږي چې اړونده ستونزې باید یوازې همدوی حل کړي. څرنګه چې پیچلتیاوې او کارونه ډیریږي، موږ خپل تمرکز او فردي هڅې ډیروو، دا ښایي د لنډ مهاله ننګونو لپاره چې څرګنده حل ولري ښه وي.

خو، که له داسې ننګونو سره مخ یو چې حل خو لا څه آن ټول اړونده اړخونه یې هم روښانه نه وي، نو دا کړنلاره د ډیرو ستونزو سبب ګرځیدای شي. نو ځکه پداسې حالاتو کې ډیره مهمه ده چې خپلو ملګرو، همکارانو او نورو ته د مرستې او مشورې لاس وغځوئ، له بیلابیلو یې واورئ تر څو وکولای شئ له بیلابیلو اړخونو شته ستونزې ته وګورئ.

موږ د زده کړې ټاکلې محدودیت او خپل تمایلات لرو، یعنې هر څه ته له خپل نظره ګورو. خو، کولای شو د خپلو ملګرو او همکارانو له لارې خپله پوهه څو ځلې لوړه او بیلابیل نظرونه واخیستلی شو، چې په دوی کې یې هر یو شته ستونزه د خپلو تجاربو او نظریو په رڼا کې ارزوي او له موږ سره یې په حل کې مرسته کوي.

## ٦ .دوه ګامه راووځئ

ځینې وخت موږ په شته ننګونو کې دومره غرق شو چې ځان راته نښتی ښکاري، دلته له دوه ګامه راووځئ څخه زما هدف دا دی چې که ځان غرق احساسوئ نو له هغه ځایه راووځئ، بیرون ولاړ شئ، تازه هوا تنفس کړئ، له کاره یا ستونزې لیرې له یو چا سره وغږیږئ.

تاریخ له داسې ډیرو کشفیاتو ډک دی، چې کله اړونده عالم پر ستونزه کار کاوه، هیڅ حل یې مخ ته نه راته، یا پیاده تګ ته وتلی دی، یا ویده شوې دی، ډیرو ته د پیاده تګ پر مهال حل راښکاره شوی، ځینو بیا خوب لیدلی چې حل یې څه کیدای شي. له ستونزې سره مخ کیدو او د حل لټولو پر مهال کوچنۍ وقفې او له هغه چاپیریاله راوتل له موږ سره مرسته کوي تر څو ستونزې ته له بل اړخه وګورو او د یو جامع حل په لټه کې شو.

هره ورځ یې وینو چې موږ نشو کولای د هغه بدلونونو، پیچلتیاوو او ابهاماتو مخه ونیسو چې موږ ورسره په دوامداره توګه مخ کیږو. خو پورته ذکر شوی کړنلارې کولای شي له تاسې مرسته وکړي تر څو د خپل ژوند له پیچلتیاوو او اړونده ننګونو یې زده کړئ او په بهتره توګه ورسره معامله وکړئ.

---

## ډېر زر قضاوت مکوئ

یو کس په فاحشه خانه کې مړ شو او یو بل کس په جومات کې !

خلکو خپل قضاوتونه وکړل ځکه عقل یې په سترګو کې وو .

خو لومړنی کس د نصیحت لپاره فاحشه خانې ته تللی وو او دوهم هغه د بوټانو د غلا لپاره جومات ته .

عقل مو له سترګو سر ته ور ستون کړئ او د یو بل په اړه له قضاوتونو تیر شئ .

دا ومنئ :

هر د ږیرې والا مؤمن نه دی،

هر خوږ ژبی چاپلوس نه دی،

هر خندیدونکی خوښ نه دی،

او هر څوک چې پلی روان دی یا پر بایسکل سپور دی، هغه غریب نه دی.

## د ګران وطن او لوی پښتون قوم د حالاتو سره یو څه سر خوري

یو سپی د زمری له ځنګه تېرېده، ګوري چې زمری بیده دئ؛ سپي ژر رسۍ راوړه او بیده زمری ئې ټینګ په ونه پوري وتړئ.

کله چې زمری را ویښ سو، هڅه ئې وکړه، چې ځان خلاص کړي، خو زور ئې ونه رسېدئ. په دې وخت کې یو خر تېرېدئ؛ زمري خره ته وویل، که دې زه خلاص کړم، نیم ځنګل تاته درکوم!

خر اول د زمري پر ژمنه بدګمانه سو، خو وروسته ئې پرېکړه وکړه، چې زمری خلاص کړي.

کله چې زمری خلاص سو ځان ئې وخنډه، نو خره ته ئې وویل "زه نیم ځنګل نه در کوم"!

خره په حیرانتیا ورته وویل: خو تا د نیم ځنګله ژمنه راسره وکړه.

زمري ورته وویل، ټول ځنګل تاته درکوم، په هغه ځنګله کې چې زمری د سپي په دام بندیږي او خر ئې ایله کوي نور نو د ژوند کولو ارزښت نه لري.



"له کلیله و دمنه څخه"
د سید احمد قانع ژباړه

# انسان ولې جنګ کوي؟

## شرف الدين عظيمي

جنګ یوه لرغونې پدیده ده چې د تاریخ په اوږدو کې یې د بشري ټولنې پام ځان ته ورګرځولی. تاریخ یې د انسان له پیدایښت سره سم د قابیل د ورور په وژنه پیل شو. دا چې په دنیا کې دې هیڅ جنګ او جګړه نه وي شوي داسې کومه سیمه نشته او که وي هم ډېرې کمې به وي.

اروا‌پوهنه د انسان اصالت ته په کتو بشري بدلونونه د انسان د طبیعت، غوښتنو او بیلوژیکي کړنو پر بنسټ تحلیلوي. د اروا‌پوهنې له نظره انسان هېڅ جګړه په شعوري ډول نه ترسره کوي او وايي چې په جګړه ییزو پرېکړو کې معمولاً د پیچلي بیولوژیکي او عاطفي تحریکونه، لاشعوري ځورونې، پټې وېرې، غضبونه او داسې نور شته چې سرچینه ترې اخلي او په یرغلیزو پېښو کې د اروا‌پوهنې نظر دا دی چې ځینې غوټې (عقدې) د یادو حملو او تیریو لامل ګرځي په دې اړوند به نور لاملونه هم خپل مهم تاثیرات لري.

### جنګ څه دی؟

جنګ د پوهانو په اند سازمان شوې، مسلحانه او د یوې اوږدې مودې لپاره شخړې ته وايي چې د دولتونو، ملتونو یا ډلو ترمنځ رامنځ ته کېږي او له تاوتریخوالي، اړودوړ، مادي زیانونو، مرګ ژوبلې او جسمي او رواني ناروغیو سره مل وي.

جنرال کارل فون کلاوزویتس چې د نظامي چارو په برخه کې د نظر خاوند هم دی په کال (۱۸۳۲ ل) کې یې د یوې څېړنې له مخې یې د جنګ په اړه داسې تعریف وړاندې کړ: "د خپلو غوښتنو لپاره په زور سره د دښمن مجبورول دي".

د جنګ په اړوند څو لنډې تاریخي یادونې:

له هغه راهیسې چې دولتونه جوړ شول د نړۍ په بېلابېلو برخو کې نظامي فعالیتونه پیل شول او د باروتو او ټکنالوژۍ په رامنځته کېدلو دغه چاره نوره هم ګړندۍ شوه او نوي جګړه ییز حرکتونه یې رامنځته کړل.

کانوی هندرسون په خپل یوه کتاب کې لیکي: " یوه منبع مدعي ده چې له میلاد څخه وړاندې بیا تر ۲۰ پېړۍ پورې نږدې ۱۴۵۰۰ جګړې شوې چې ۳/۵ ملیارده انسانان په کې وژل شوي او د نړۍ تاریخ یوازې ۳۰۰ کاله په سوله کې پاتې شوی".

لارنس کیلی د ایلینوی پوهنتون استاد په خپل کتاب جګړه له تمدن څخه وړاندې کتاب کې لیکي "نږدې ۹۰ تر ۹۵ په سلو کې ټولنې تر اوسه پیژندل شوې چې د تاریخ په اوږدو کې کله ناکله په دوامداره او لنډمهاله ډول په جګړو کې ښکېل وې."

په ۲۰۰۵ کال کې یوه ریپوټ وښوده، وروسته له ۱۹۹۰ لسیزې چې سره جګړه پای ته ورسېده د وسلوالې جګړې کچه او چټکتوب ډېر راکم شوی. په ۲۰۰۸ کال کې چې د سولې او جګړې په نوم کوم ریپوټ د نړیوال مرکز له خوا خپور شو ښیي چې پورتنی کچه ریښتیا هم ډېره کمه شوې.

وروسته له دویمې نړیوالې جګړې ملتونه هم په همدې موخه له نړیوالې ټولنې سره یوځای شول او په همدې موده کې او له همدې لامله وه چې ډېر هېوادونو جګړې ته د یوې شومې پدېدې په سترګه وکتل او د خپلو هېوادونو د جنګ وزارتونه یې د د فاع د وزارتونو په نومونو ونومول.

البرټ انشټین هم په کال ۱۹۴۷ کې چې ورځ تر بلې د جګړې د زورور کیدو او نویو جګړه ییزو تسلیحاتو او د اټوم بمب د ممکنه عواقبو په اندېښنه کې، په خپله معروفه وینا کې وویل: ((زه نه پوهېږم چې په درېیمه نړیواله جګړه کې به کوم جګړه ییزو وسایل وکارول شي، خو د څلورمې نړیوالې جګړې وسایل به تیږې او لرګي وي)).

د نړۍ څو مشهورې جګړې:

لومړنۍ نړیواله جګړه

دویمه نړیواله جګړه

د اسرایلو جګړه

شپږ ورځنۍ جګړه

د کوریا جګړه

د ویتنام جګړه

د افغان روس جګړه

د خلیج فارس جګړه

له تروریزم سره جګړه

دې ټولو تاریخي پېښو ته په کتو سره یوه پوښتنه پیدا کېږي، انسان ولې جګړه کوي؟ په دې برخه کې فروید ته د انشتین یوه لیک کې ګڼ او مهم عوامل یاد کړي دي، ولې ترې له مخه یې یو شمېر نور اروایي عوامل د یادولو دي.

### د جګړې انګېزې د اروا‌پوهانو له نظره:

انسان پرته له مېړیو یوازینی موجود دی چې تل په جګړو او یو پر بل په یرغل کې تېروي او دا سوال یې مطرح کړی چې بشر ولې دا کار کوي؟ که غواړو چې سولې ته ورسېږو نه یوازې دا چې نړیوال

لاملونه یې باید ولټوو بلکې په دې هم باید پوه شو چې دې کار ته میلان ولې پیدا کېږي د دې پوښتنو لپاره اروپوهان لاندې څو مهم ځوابونه راپه ګوتو کوي چې نورې وړې انګېزې او غوټې هم په خپله لمنه کې رانغاړي:

## غریزه:

غریزه هغه دروني لېوالتیا ده چې ذاتا د ژوندي موجود په ارګانیزم کې شته او ځانګړو کړو وړو ته یې هڅوي. امریکایی جنرال پاټن په دویمه نړیواله جګړه کې وویل: "دا ډېره پوچه خبره ده چې موږ امریکایان جنګ نه غواړو او غواړو چې جګړه ودرو او ترې ووځو دا خبره ډېره بې مانا ده، جګړه د امریکایانو یو غوښتنه ده او ټول اصیل امریکایان په جګړه او د جګړې په غږ مین دي".

زیګموند فروید په دې اړوند وایي: "انسان یو داړونکی ښاروی دی".

پر دې اساس فروید یرغل او داړل د انسان په وجود کې نغښتي ګڼي او وایي که په سمه او رغنده ډول ونه کارول شي په افراطي او مضر ډول را څرګندېږي نو پر دې بسټ ویلی شو چې جنګ کول د انسان دروني غریزه ده.

## محرومیت:

که انسان خپلو هیلو ته د رسېدلو په لړ کې له کوم خنډ سره مخ شي او له هغه څخه یې محروم کړي نو تاوتریخوالی کوي او دا کړنه کېدای شي نیغ په نیغه د ځانګړي خنډ په وړاندې هم نه بلکې په نورو ځایناستو یې وي او دا یرغل او داړل کېدای شي توپیر هم وکړي او دا توپیر د انسان په استعداد پورې هم اړه لري او بهرني لاملونه یې په پیل او ځواک کې ونډه اخلي او اغېز پرې شیندي.

## زده کړه:

داړل او یرغل هم د نورو کړنو په څېر انسان زده کوي او دا زده کړه هم د لیدنې او پېښو (تقلید) له لارې کوي او دا لړۍ چې هر څومره ځواکمنه شي د راڅرګندېدو زمینه یې هم په هماغه کچه پیاوړې کېږي.

د یادولو وړ ده چې په یوه ټولنه کې باید عصبانیتونو او احساساتې کېدلو په برخه کې رغنده ګامونه واخیستل شي ځکه چې له عصبانیتونو او تاوتریخوالي ډک چاپېریال دا امکان لري چې په ټولنه کې شته وګړي هم خشن او عصباني شي او په دغه ډول روزنه ومومي.

امریکایي اروپوهان د دغه لامل لپاره په امریکا کې د وسلې د ګرځولو د آزادۍ له امله له فلمونو او عملي لیدنو څخه په تقلید سره د ځینو ماشومانو او تنکیو ځوانانو په وسیله د خپلو ښوونکو د وژنې مثالونه ورکوي.

## د جګړې انګېزه د فروید له نظره:

فروید د جګړې د انګېزو په اړه کوم ځانګړی اثر نه لري خو کله چې انشتین فروید ته د اروپوهنې د یو سرلارې په توګه سترګې وروا‌ړولې او یو لیک یې ورته ولیکه او ولېږه او خپله اندیښنه یې ورسره شریکه کړه نو فروید دا لیکنه په خورا ښه تفسیر ورته ځواب کړه چې تر ډېره برېده د ننني اروپوهانو له نظره سره هم همغږي لري فروید انشتین ته د جګړې د انګېزو او د انشتین د اندیښنو په اړوند د ده لیک ورځواب کړ چې دلته یې یوه وړه برخه راخلو: ((اصولاً د انسانانو تر منځ تضاد د زور په وسیله پای ته رسېږي، د حیواناتو په نړۍ کې همدا ډول دي او انسان هم باید ځان ترې بېل نه کړي. یانې تر دې حده چې د انسانانو تر منځ عقیدوي اختلاف هم د منافعو پر تضاد ورګډېږي او د شخړې لوړ ترین حد ته رسیږي او داسې ښکاري چې د دې له منځه وړل بل لاره چاره غواړي. مګر دا زموږ تر دې وروسته ستونزه ده. په پیل کې او کله به چې انسانانو ډله ییز ژوند کاوه، د مټ زور به په ګڼو چارو کې د ملکیت د ټاکلو او د وګړیو د تاثیر په ډول پېژندل کېده او چې څه شی پر چا پورې اړه لري او د چا له ارادې او غوښتنې باید پیروي وشي. د مټ زور ډېر ژر خپل ځای د ابزارو د تولید څخه ګټې اخیستنې ته پرېښود. بریا د هغه چا وه چې تر ټولو ښه وسله به یې درلوده او یا به یې په ډېر ښه ډول له هغو څخه د ګټې اخیستنې چل زده و. د وسلې له پیدا کېدو سره سم د مټ د زور ځای، فکري برترۍ ونیوه. د مبارزې تر ټولو وروستۍ موخه همدا وه چې مقابل لوري ته د زیان تر اړولو او د قدرت تر پای ته رسولو وروسته له مخالفته لاس واخلي او له خپلو غوښتنو او دعوو څخه سترګې پټې کړي. دغه چاره هغه وخت کاملاً پایلې ته رسېدله چې د رقیب په قدرت کې تر پرله پسې بریاوو او د مقابل لوري تر مداومې کمزورتیا پورې او یا هم د هغه نابودۍ او وژلو امکان رامنځته کېده. دغې چارې د فاتح لپاره دوه امتیازه درلودل: لومړی دا چې دښمن به د قواوو د تجدید امکان له لاسه ورکاوه او بل دا چې سرنوشت به یې د نورو لپاره عبرت ګرځېده. له دې ټولو علاوه د دښمن وژل د یوې انساني غریزې د ارضاء کېدو سبب ګرځي چې وروسته به پرې خبرې وکړو. البته د دښمن د نابودۍ پرېکړه له دې محاسبې سره په تضاد کې لویږي چې څنګه د وېریدلي دښمن له وژلو صرف نظر وکړي، کولای شي چې د خپلو غوښتنو د لاسته راوړلو لپاره ترې ګټه واخلي. له دې اړخه د غالب قدرت د مغلوب قدرت د وژلو پر ځای هغه خپل مطیع او مقهور ګرځوي. دا مرحله د دښمن د له منځه وړلو څخه د تېرېدو او سترګو پټولو او هغه ته د حفاظت ورکولو پیل دی؛ اما له بله اړخه، فاتح له دې وروسته د دښمن د انتقام په خاطر په کمین کې کیني، په وېره کې دی، او ناچاره خپل یو لړ امنیت او ارامتیا له لاسه ورکوي.

یقیناً، دا د سترو قدرتونو د حاکمیت منشاء ده، هغه قدرتونه چې یا یوازې پر خپل زور یا پوهې متکي دي.

پوهېږو چې په دې نظامونو کې په تدريجي ډول يو لړ بدلونونه راغلل، او د زور د استعمال لارو چارو د حقوقو د حاکميت په ګټې بدلون وموند. اما له کومو لارو؟ زما په نظر دغه بدلون له يوې لارې امکان درلود او هغه د سترو قدرتونو پر وړاندې د کوچنيو قدرتونو اتحاد او يووالی و. د زور ماتې د اتحاد له لارې امکان لري. د دې متحدينو قدرت، د هغه حقوقو ښودنه کوي چې د هر وګړي د فردي زور پر وړاندې دريږي. ګورو چې يوازې حقوق، د يوې ټولنې د قدرت ښودنه ښيي. دا ځل هم زور له هماغې موخې او وسايلو سره برخورد کوي او د هغو کسانو په مقابل کې دريږي چې مخالفت ته راپورته شوي دي. يوازې په همدې توپير چې دا ځل زور انفرادي نه دی، بلکې يو ټولنيز قدرت دی. اما نويو حقوقو ته د زور انتقال د ارواپېژندنې پر يو شرط ولاړ دی: ټوليز اتحاد بايد مداوم او مستمر اتحاد وي. که چېرې له اتحاد څخه مراد يوازې له ستر قدرت سره مبارزه وي او وروسته له بريا سره وپاشل شي، کار مخته نه دی تللی او بل قدرت چې ځان قوي ويني يو ځل بيا هڅه کوي چې د خپل زور حاکميت وساتي او په دې ډول به دغه لوبه تر ابده تکراريږي. ټولنيز پيوستون بايد تل پر ځای پاتې شي، ځان ته جوړښت ورکړي، قوانين را منځته کړي چې د قوانينو ساتونکې و اوسي او د هغوی په حقوقي اجرا کې ونډه ولري او هڅه وکړي. د داسې يوې ټولنې په رسميت پېژندلو سره دوی د يووالي احساس کوي او قدرت به يې پر دې ټولنيز تړون ولاړ وي.

زما په ګومان په دې ډول به يو شمېر داسې شرايط رامنځته شي چې پر فردي زور د غلبې امکان به يوې سترې مجموعې ته د قدرت د انتقال له لارې مهيا کړای شي؛ هغه مجموعه چې د غړيو احساسي تړون به يې د بقا او دوام ضمانت کوي. يوازې هغه څه چې پاتې کېږي، هغه د اجراء کولو او دوام ورکولو مرحله ده. اما موجوده اړيکې به تر هغې ساده اړيکې وي چې ټولنه له هغو وګړيو څخه تشکيل شوې وي چې قدرت او وسايل يې سره برابر وي. د دغې مجموعې قوانين، فردي ازادۍ او له قدرت څخه استفاده ټاکي او تحديدوي چې يې له لارې په ټولنه کې د افرادو تر منځ اوسېدنه تضمين او امکان پيدا کړي.

اما داسې يوه ارامې يوازې د نظر تر بريده تصور کېدای شي او په عمل کې يو پيچلی وضعيت خپلوي؛ ځکه چې ټولنه په پيل کې له هغو باقدرته وګړيو جوړه وي چې نابرابر امکانات لري، نران او ښځې، پلرونه او ميندې او اولادونه، دومره وخت لا نه وي تېر شوی چې له يو بل سره د جګړې او غاړه ايښودلو له لارې فاتحين او مغلوبين رامنځته کېږي او په ارباب او بنده بدليږي. نو په دې ډول ټولنيز حقوق د قدرت پر نسبي نابرابرۍ بدليږي. قوانين د حاکم قدرت په وسيله او لپاره پلان کيږي او تر لاسه لاندې کسان به د کمو حقونو څخه برخمن کېږي. له دې وروسته په ټولنه کې د تخطي او تحول دوه حقوقي حوزې رامنځته کېږي. په يوه کې هغه ځواکمنه ډله شامليږي چې ټول هغه قانوني محدوديتونه چې د ټولو لپاره معتبر دي، ناليدلي نيسي او د قانون له حاکميت څخه د زور نوي حاکميت ته ورګرځي او بل د ټولنې د محرومو وګړيو مدام کوښښ دی چې د ډېر قدرت او د موجودو قوانينو تغير او سر بېره پر دې، د قانون اصلي برابرۍ ته لاسرسی. دويم جريان په ځانګړي ډول هغه وخت اهميت او مانا پيدا کوي چې د ټولنې په بنسټ کې په واقعي ډول د قدرت ځای پر ځای کېدل او د مناسباتو تغير رامنځته شي. دغه کار د يو شمېر ګڼو تاريخي عواملو په پايله کې تر سره کېدای شي. په دې حالت کې، حقوق په تدريجي ډول ځان د نوي قدرت له مناسباتو سره تطبيقوي؛ يا هغه ډول چې حاکمه طبقه – هغه ډول چې تر ډېره رامنځته کېږي – دغه بدلون ته ځان نه ورکوي او د طرفينو له فشار سره، د کورنۍ جګړې بلوا او انقلاب سره نښلي او له دې سره د يو څه وخت لپاره قوانين ملغا او نوې زور ازمايي پيليږي چې د نوي حقوقي نظام په رامنځته کېدا سره پای ته رسيږي. البته حقوقي تحولات له سوله ييزو لارو چارو هم تر لاسه کېدای شي چې د ټولنې په غړيو کې له فرهنګي بدلون سره مله دي. دغه فرهنګي بدلونونه له يو شمېر عواملو سره تړلي دي چې وروسته به ورته کتنه وشي.

نو په دې اساس ګورو چې د يوې ټولنې په محدوده کې هم د منافعو پر سر تضاد د زور په مرسته اجتناب ناپذير دی. اما اړتياوې او مشترک اړخونه چې په دې خاورينه کره کې له ګڼ ژوند څخه را زېږېدلي دي د اختلافاتو او نښتو د ژر تر ژره له منځه وړلو لپاره امکان ډېروي او د همدې شان شرايطو تر چتر لاندې د يو سوله ايز حل احتمال ډېريږي. د بشر د تاريخ تر يوې ځغلنده کتنې وروسته را مالوميږي چې تل د يو يا څو ټولنيزو موجوداتو ترمنځ، د کوچنيو او سترو واحدونو تر منځ، ښاري محدوديتونه، مختلفې سيمې؛ د قبايلو، ملتونو او امپراتوريو تر منځ پای ته نه رسېدونکي اختلافات موجود وو چې بالاخره د جنګ او د زور د استعمال له لارې پای ته رسيدلي دي. دا ډول جګړې د لوټ او يا د يو لوري پر بشپړې غاړې ايښودنې سره پای ته رسيږي. البته د جنګي فتوحاتو په اړه نه شو کولای يو شان قضاوت وکړو. ځينو لکه مغولانو او ترکانو يوازې بدبختي او توري ورځې راوړې. ولې په مقابل کې يې ځينو نورو د سترو ټولنيزو واحدونو د رامنځته کولو له لارې د زور د حقوقو د بدلولو او په انتقال کې مرسته وکړه او له زور څخه د کار اخيستنې امکان يې له منځه يووړ او د يو نوي حقوقي نظام د اساس پر ايښودلو يې، اختلافات ختم کړل. د بېلګې په ډول د مديترانې د ساحلي هېوادونو لپاره د روميانو فتوحات، «رومي سوله» وزېږوله او د فرانسوي پاچاهانو هېواد د غوړونې هوس يو مستعد او سوله ييز هېواد را منځته کړ.

که څه هم دا خبره به سره تناقص ولري، ولې بايد وويل شي چې جنګ د يوې «پايدارې» سولې ته رسيدو لپاره چې موږ ټول يې په لټه کې يو، نامناسبه وسيله نه ده؛ ځکه چې د دې وړتيا لري چې ستر واحدونه رامنځته کړي او د هغوی په محدوده کې به د مقتدر مرکزي قدرت له لارې، د نويو جنګونو رامنځته کېدل غير ممکن وي. اما په واقعيت کې د دې کار قابليت هم نه لري ځکه چې د فتوحاتو پايلې معمولاً زيات دوام نه کوي او په اغلب ډول نوي واحدونه د مختلفو برخو د اجباري يووالي له

وجې ډېر ژر سره پاشل کيږي. له دې ټولو ور وړاندې، تر نن پورې فتوحاتو يوازې دومره کړي دي چې جزيي اتحادونه – که هر څو هم پراخ وي رامنځته کړي دي چې نهايتاً يې اختلافات د زور پر کاروني فيصله شوي دي. يوازينۍ پايله چې د دې جنګ غوښتنې له هڅو څخه ترلاسه شوې ده، بشريت ګڼې کوچنۍ جګړې، ولې پرله پسې جګړې پر کمو سترو جګړو، اما پر مخربو او ويجاړونکو جګړو بدلې کړې دي.

په اوس مهال کې هم، لکه تاسو چې هم ورته لنډه اشاره کړې وه، تر لاسه شوې نتيجه او استعمال هم د پخوا په شان دی. په واقعيت کې د جګړې له پېښېدو څخه قطعي مخنيوی هغه وخت ممکن دی چې انسانان د مرکزي قدرت د ځای پر ځای کولو او د هغه د احکامو د رعايتولو پر سر د اختلاف په هر يو مورد کې، اصولي توافق ته ورسيږي. د دې امر د پر ځای کولو لپاره دوه شرطه لازم دي: لومړی شرط د همدې ډول سترو مراجعو تشکيلول او دويم شرط دا دی چې هغوی ته بايد کافي واکونه ورکړل شي. يو عامل خاص څه نه شي تر سره کولای. په اوس مهال کې «نړيواله ټولنه» د همدې ډول مرکزي قدرت د سرپرست په حيث په نظر کې نيول شوې ده ولې دويم شرط ته لا د عمل جامه نده ور اغوستل شوې. نړيواله ټولنه ناتوانه ده او يوازې هغه مهال د دې وړتيا لري  چې لازم امکانات او قدرت تر لاسه کړي چې د نوې اتحاديې غړي، يانې يو يو غړی هېواد، همدا ډول اقتدار ورته ورکړي. اما په اوس حال کې د داسې يو امر د تحقق کومه خاصه هيله نشته. د نړيوالې ټولنې تشکيلات زموږ لپاره د درک وړ نه و، او نه پوهېدو چې دلته د بشر د تاريخ يو نادرترين کوښښ او يا حتی لومړی کوښښ، په دومره ستره پراختيا رامنځته شوی دی. «نړيواله ټولنه» هغه هڅه ده چې اقتدار يا په بل عبارت مطلق نفوذ کول چې معمولاً د قدرت پر ملکيت ولاړ دی، د ځانګړو معنوي نظرونو (نګرشونو) له لارې ځان ته انتقال کړي.

وړاندې مو وويل چې دوه عوامل د ټولنې د يووالي باعث ګرځي: يو د زور فشار او بل د غړيو احساسي تړون – په فني اصطلاح کې ورته يو کول وايي. په موقتي ډول د يو د له منځه تللو سره به، احتمالاً دويم ټولنه همداسې پر پښو ودروي. البته څرګنده ده چې يوازې هغه نظرونه د اهميت وړ دي چې د ټولنې د غړيو د ونډې د مهمو اړخونو ښودونکي وي. ښه، اوس دا پوښتنه مخې ته راځي چې دا نظرونه او فکرونه تر کومه بريده کولای شي چې د ټولنې د غړيو پر احساسي تړون تاثير ولري؟ تاريخ موږ ته را زده کوي چې دې فکرونو عملاً خپل تاثير پرې ايښی دی. د بېلګې په ډول د يونان د يووالي فکر چې د ګڼو ښارونو په کلتوري – سياسي مرکزونو کې، په معبدونو، په مذهبي مراسمو او په جنشنوارو کې به په يو تاکيدي قالب کې به پر بربري ګاونډي د يونان ستروالی بيانيده، له داسې يو تاثير او قدرت څخه به برخمن و چې يونانيان له خپل منځۍ جنګ غوښتنې وساتي؛ اما دومره قوي نه و چې د يوناني ملت تر منځ د سترو او مخربو جګړو مخه ونيسي او حتی ونه توانيد  چې يو ښار يا د څو متحدو ښارونو مجموعه، پر خپل کورني رقيب د زيانونو د اړولو سره، له خپل ايراني دښمن سره يو ځای نه شي. همدا ډول د کلتوري رنسانس پر مهال د مسيحي يووالي احساس هم د زيات او ژور قدرت با وجود ونه توانيد چې هغه مسيحي کوچني او ستر هېوادونه چې له يو او بل سره به په جنګ و، د خپل کورني رقيب د ځپلو لپاره د مسلمانو سلاطينو له مرستې او يارانې را وګرځوي. په اوسني عصر کې هم داسې يو فکر چې وتوانيږي د ټولنې کامل اقتدار او اعتبار ولري، نشته. اوس د ملتونو پر خپلو ملي ايديالونو او ارمانونو پافشاري سرچپه نتيجه لري، داسې څرګنده ده چې هېڅ شرحې او توضيح ته اړتيا نه لري. يو شمېر بيا وړاندوينه کوي چې يوازې د بلشويکي افکارو ته وسعت او پراختيا ورکول، کولای شي چې جنګ ته د پای ټکی کېږدي؛ اما اوس داسې يوې موخې ته د رسېدلو لپاره لوی واټن پاتې دی، او ورته رسېدل تر يو کورني وحشتناک جنګ وروسته امکان پيدا کوي. په هر حال اوس خو داسې ښکاري چې په اوسنيو شرايطو کې د موجود واقعي قدرت پر ځای د نظرونو د قدرت ځای پر ځای کول، له ماتې سره مخ دی. اشتباه ده چې په خپلو محسباتو کې دا له ياده وباسو چې په لومړي سر کې د حقوقو اصلي منشاء يوازې زور و؛ لکه څرنګه چې اوس هم حقوق يوازې پر زور تر اتکاء سترګې نه شي پټولی.

اوس کوښښ کړم چې ستاسو يوه بله جمله تفسير کړم. تاسو د جنګ لپاره د انسانانو د خپلې خوښونې له هڅې حيرانتيا ښودلې ده او ګومان مو کړی چې د انسان په داخل کې يو شی، پر دې هر څه اثر پرېباسي او وروسته مو د نفرت او نابودۍ له غريزې يادونه  کړې ده چې دا هر څه اسانوي. دا ځل هم ستاسو نظر پرته له کومې لاسوهنې تاييدوم. موږ د داسې يوې غريزې په شته والي باور لرو او په دې وروستيو کلونو کې مو هڅه هم کړې ده چې د نښو او کړنو له لارې يې وڅېړو. اجازه لرم چې د دې برخې په حواله په روانکاوی کې د غريزې پر کړنو چې موږ ورته د زياتو څېړنو او ارزونو وروسته رسيدلي يو، له تاسو سره شريک کړم؟ زموږ باور دا دی چې انساني غريزې په دوه ډوله دي:

هغه غريزې چې د انساني نفس د ساتنې (صيانت/ بقاء) او له ژوند سره سروکار لري – موږ دا غريزې «عشقي» بولو، کاملاً د عشق هغه مفهوم چې د افلاطون په «ميلمستيا» کې راغلی دی؛ يا «جنسي» د عامه منل شويو جنسي تمايلاتو د مفهوم په شعوري پراختيا سره.

هغه غريزې چې د ويجاړتيا او مرګ غوښتونکي دي. موږ هغه غريزې د ويجاړتيا او تخريب د غريزو په نامه يادوو.

ګورئ چې زموږ نظريې په واقعيت کې يوازې د عشق او نفرت د نظري تقابل بدلون دی او شايد لومړنی نسبت يې د «جاذبې» او «دافعې» قطبونو ته ورسيږي چې ستاسو په تخصصي څانګه کې هم ونډه لري. ښه، اوس مه پرېږدئ چې موږ دومره ژر د ښه او بد له ارزونې څخه تېر شو. يادې دواړه غريزې مهمې دي او د ژوند روښانتيا د همدې دواړو غريزو د مشترکو کړنو او متقابلو تاثيراتو پايله ده. داسې مالوميږي چې يوه غريزه

هم نه شي کولای چې له بلې پرته او یوازې فعالیت وکړي او تل هره یوه له بلې سره تر یو ځانګړي حده ملګرې ده. په هغه ډول چې وایو: دغه په یو او بل کې نغښتي دي چې موخه تعدیلوي او هم د ځینو شرایطو په نظر کې نیولو سره ورته رسیږي. د بېلګې په ډول د نفس صیانت مسلماً د عشق له غریزې سرچینه اخلي، که چېرې غواړي ستا منظور او مقصود تر لاسه کړي، قهر او غوصې ته اړتیا لري. همدا ډول د عشق غریزه، په هر ډول چې وي، د معشوق د تر لاسه کولو لپاره د تصاحب غریزې ته اړتیا لري. د یادو دواړو غریزو د تاثیراتو د جلاکولو ستونزې، تر ډېره موږ د دوی له پېژندګلوی لرې کړي وو

که چېرې لږ نور هم را سره اوسئ، نو وبه ګورئ چې د انسان کړه وړه یوه ځانګړې پېچلتیا لري. په ډېرو کمو او استثنایي حالاتو کې به د دې شاهدان اوسو چې یوه انساني کړنه دې له یوې غریزې سرچینه اخیستي وي. څکه هره کړنه په خپل سر تحریک شوي ډول، باید د عشق او نفرت د غریزې ګډ شکل و اوسي. قاعدتاً ډېرې انګیزې باید په یو بل کې سره ګډې جبران شي  چې د انسان کړنه امکان ولري. ستاسو یو همکار، پروفیسور «ګیورګ کرستف لیشتنبرګ» چې د ګوتنګن په پوهنتون کې د فیزیک یو پیاوړی استاد و، تر ډېره پر دې مسله واقف و، شاید هغه د یو اراپوه پر ځای نه شوای کولای چې د یو فیزیکپوه په کچه اعتبار خپل کړي. په هر حال هغه د «انګیزو د ګلباد» کاشف و چې وایي ((د ټولو هغه کړنو علت چې موږ یې په اساس کوم کار تر سره کوو ((موږ ورته نن «انګیزې» وایو)) کولای شو چې د قطب نما د پاڼې په څېر یې په ۳۲ برخو وویشو او تنظیم کړو او نومونه هم په مشابه ډول له یو بل سره څنګ ته کېږدو. د بېلګې په ډول «کتاب – کتاب، کباب – کباب، کباب – کتاب». په دې ډول، کله چې انسانان جنګ ته بلل کېږي ډېرې انګېزې یې باید د جنګ لپاره د خوښۍ او شور ځواب ووایي او له جنګ سره موافقت ولري؛ سترې او ټیټې او ښې او بدې انګېزې؛ هغه انګیزې چې په لوړ غږ وړاندې کېږي او هغه انګیزې چې په سکوت سره ښکاره کېږي او پر ژبه نه راوړل کېږي. اړتیا نه لري چې موږ هغه ټولې ښکاره او راوباسو؛ اما تاوتریخوالي او تخریب ته میل یقیناً چې په دوی کې شته. ډېر وحشتونه چې د تاریخ په لړ او په ورځني ژوند کې ترسره کیږي، د هغوی وجود او قدرت تاییدوي. مسلماً د تخریبي تمایلاتو او له نورو شهواني او معنوي غرایزو نغښتل او ترکیب د هغوی ارضاء ساده کوي. کله چې د تاریخ ناورینونه او شخړې ګورو، کله داسې ښکاري چې اصلي او معنوي انګیزې یوازې د تخریبي میل د ارضاء لپاره بهانه وه. بل دا چې موږ باور لرو چې د مذهبي عقایدو د تفتیش محکمو د ظالمانه اعمالو او د وحشتونو د واقع کېدو پر وخت، معنوي انګیزو په شعور کې ځای ونیوه او د ځان په لوري یې د نظریاتو د جلب باعث شول او تخریبي انګیزو په لاشعوري ډول هغوی تقویه کړل. دواړه یاد شوي موارد د امکان وړ دي.

تصور کوم چې نه به مې ستاسو د علاقې له وړ موضوع څخه چې له «جنګه مخنیوی» دی او نه مې له خپلو نظریو څخه، سوء استفاده کړې وي، ولې پر دې ټولو سربېره، تمایل لرم چې لږ څه نور هم د تخریب پر غریزې وغږېږم؛ هغه غریزه چې محبوبیت یې په هېڅ وجه تر اهمیته نه رسېږي. موږ په خپلو څېړنو کې تر زیاتې ارزونې او تامل وروسته دې پایلې ته رسیدلي یو چې دا غریزه د هر ژوندي موجود په داخل کې فعاله ده او هڅه کوي چې ژوندی موجود په تدریجي ډول له پښو وغورځوي او ژوند پر یو غیرژوندي حالت واړوي. یاده غریزه په رښتیا هم د دې وړ ده چې «د مرګ غریزه» یې ونوموو؛ په داسې حال کې چې د عشق غریزه او شهواني غرایز د ژوند له کوښښونو او هڅو را زېږي. د مرګ غریزه هغه مهال د تخریب پر غریزې اوړي او بدلیږي چې د یو ځانګړي غړي (عضو) په مرسته د یو بهرني شي په مقابل کې ترې ګټه واخیستل شي. یا په بل عبارت، ژوندی موجود له خپل ژوند څخه د یو پردي د له منځه وړلو په موخه ترې ساتنه کوي. اما د مرګ د غریزې یوه برخه د ژوندي موجود په داخل کې فعاله کېږي. موږ کوښښ کړی دی چې یو شمېر ناروغ ډوله او عادي پدیدې د مرګ په غریزه کې له ننوتو څخه پایلې تر لاسه کړو. موږ حتی خپله پښه د عقایدو له محدودې بېرون ایښې ده او هڅه مو کړې چې د وجدان پیدا کېدا د همدې ډول تاوتریخوالي په ګردش کې توضیح کړو. وګورئ چې د دا ډول جریانانو لمنه له حد څخه زیاته پراخه شي او د تخریب غریزه په پراخه پیمانه دروني شي، په هیڅ وجه له ستونزو خالي نه ده او له یوې مخې زیان اړونکې ده او ګڼ عواقب به له ځانه سره ولري. په داسې حال کې چې د دغې غریزې د قواوو چرخش په بېرون کې او د تخریب او ورانۍ په ډول د ژوندي موجود بار سپکوي او ممکن یو مطبوع تاثیر پرې ولري. په واقعیت کې د دغه جریانات د بیولوژیکي عذر د ټولو خطرناکو او بدو کوښښونو په خدمت کې دي چې موږ یې پر وړاندې د مبارزې هوډ لرو. باید وویل شي چې هغه د انسان طبیعت ته د هغوی پر وړاندې زموږ د مبارزې په نسبت ډېر نږدې دي چې حتی توجیه او توضیح هم ورته پیدا کړو. شاید تصور وکړئ چې زموږ نظریات یو ډول اسطوره پوهنه ده چې زړه وړونکې او خوښوونکې هم نه ده. پوښتنه کوم، ایا ټول طبیعي علوم په یو ډول اسطوره پوهنې ته نه ور رسیږي؟ ایا فیزیک د دې یوه برخه نه ده؟

د بحث د دوام لپاره، له پورتنیو مطالبو څخه همدومره پوهېدای شو چې د انسانانو د تاوتریخوالي لرونکي تمایلاتو د له منځه وړلو هېڅ امید نه شو درلودلای. وایي چې د خاورینې کرې په ښې او خوشحاله سیمه کې داسې قومونه موندل کېږي چې طبیعت ټول هغه څه چې انسان ورته اړتیا لري، په ښه پرېمانه اندازه ورته برابر کړي دي او ژوند یې په ډېره مینه او مهربانۍ او له جنګ، زور او تشدد څخه پرته تېرېږي. زه په ډېره سختۍ پرې باور کولای شم، اما غواړم چې زیات د دې ډول خوشبختو انسانانو له ژوند څخه خبر شم. بلشویکان هیله مند دي چې د ټولنې د غړیو تر منځ د برابرۍ د پیدا کولو او د مادي اړتیاوو د تضمین او ارضاء کولو له لارې به تاوتریخوالی د انسانانو له منځه ورک کړي. زما په نظر یوه باطله او هسې غولونکې هیله ده. په اوس حال کې ښه ډېره وسله لري او حتی ځان ته د دې زحمت هم نه ورکوي چې خپل پلویان د نورو پر

وړاندې له نفرت او کینې ځخه را وګرځوي. له دې هر څه وړاندې، هماغه ډول چې تاسو هم ورته اشاره کړې ده، زموږ موخه په کامل ډول د انسانانو د تاوتریخوالي لرونکو تمایلاتو له منځه وړل نه دي. یوازې باید کوښښ وکړو چې دا تمایل داسې رهبري شي چې د جګړې په ډول سر راپورته نه کړي.

په دې ترتیب، د غریزې د اسطوریي زده کړې له لارې له جنګ څخه د غیر مستقیم مخنیوي اسانه لاره پیدا کولای شو. که چېرې جګړې ته تیاری د تخریب د غریزې د بلافاصله اثراتو پایله وي، داسې مالومیږي چې د همدې غریزې رقیب، یانې د عشق له غریزې څخه مرسته غوښتلی شو. هر هغه څه چې د انسانانو تر منځ د احساسي/ عاطفي تړون موجب ګرځي، کولای شو چې د جګړې پر وړاندې ترې کار واخیستل شي. دغه تړونونه کېدای شي چې په دوه ډوله و اوسي: یو د عاشقانه روابطو په اساس؛ حتا چې پرته له جنسي موخو څخه وي. آن کله چې اروا شننه د عشق په اړه غږیږي، نه شرمیږي، ځکه دین هم وایي: «له نورو سره د ځان په ډول مینه وکړئ.» لکه څرنګه چې ادعا اسانه ده، ولې ترسره کول یې سخت دي. د احساسي تړون بل ډول له هم ذات ګڼلو او د یووالي له احساس څخه را منځته کېږي. هغه وجوهات چې د انسانانو تر منځ مهم او استوار مشترک کمک رامنځته کړي، همدا ډول مشترک احساسات او هم ذات ګڼل به له ځانه سره لري. د یوې ټولنې ستره برخه پر همدې اړخونو ولاړه ده.

له اقتدار څخه د ناوړې ګټې اخیستنې په اړه ستاسو ګیله او شکایت پلمه ګرځوم چې د جنګ غوښتنې له تمایلاتو څخه د مخنیوي یوې بلې غیر مستقیمې لارې ته اشاره ولرم. د انسانانو تر منځ د ذاتي او تغیر نه منونکې نابرابرۍ یو اړخ دا دی چې په دوو ډلو، رهبر او پلوي وېشل کېږي. دویمه ډله، یانې پلویان هغه ستره برخه تشکیلوي او هغه باقدرته سرچینې ته اړتیا لري چې د ځان په اړه ورته پرېکړه وکړي او دوی پرته له کوم قید او شرط څخه له هغوی پیروي کوي. دلته د یادولو وړ ده چې له مخکې باید زیات مراقب و اوسو، له دقت او کوښښ څخه کار واخلو، چې فکري ازاد، نه ډارېدونکي، او حقیقت پلټونکي انسانان، د ټولنې له سترو پوړونو وروزل شي او د تړلیو او غیر خپلواکو ټولنو هدایت ورته وسپارل شي. البته استدلال او ثبوت ته اړتیا نه لري چې د دولت د سترو قواو مداخله او لاسوهنه او د کلیسا فکري ممانعت به د دې ډول روزنیزې هڅې په ګټه نه وي. البته مطلوب او په زړه پورې وضعیت به له وګړیو جوړه مرکبه ټولنه وي چې غریزي ژوند به یې عقل او پوهې مطیع او مغلوب کړی وي. هیڅ بل عامل، حتا د وګړیو تر منځ له احساسي تړون څخه په صرفنظر کېدو، به د هغوی تر منځ دا ډول کامل او مقاوم یووالی ایجاد نه کړي. اما په ستر احتمال سره د دا ډول یو وضعیت یوازې یو خیال پلو او هسې غولونکې هیله ده. مسلماً له جګړې څخه د غیر مستقیم مخنیوي نورې لارې هم شته چې تر دې زیاتې عملي او د انجام وړ دي؛ خو عاجله او فوري پایله نه لري. ډېر کم داسې خلک په دې فکر کوي چې ژرنده دې دومره په ورو وچلیږي او اوړه وکړي، چې سړی له لوږې ومري. په بله ژبه، ډېر کم څوک له مرګ څخه وروسته د درملو د خوړو په اړه فکر کوي.

تاسو ګورئ چې په عملي برخه کې د ځینو ضروري مسایلو حل په موخه له نړۍ څخه د پردیو نظریه ورکونکو څخه مرسته غوښتل کومه پایله نه ورکوي. ښه دا ده چې د هرې مسلې د حل لپاره باید خطر ومنو، او هغه وسایل چې لرو یې، ګټه ترې واخلو. اوس غواړم د هغې مسلې په اړه وغږېږم چې تاسو ورته په خپل لیک کې یادونه نه وه کړې، خو زما لپاره زیاته جالبه ده.

ربښتیا ولې موږ د جنګ پر وړاندې دومره پرېشانه کېږو؟ تاسو، زه او زموږ په شان نور ډېر؟ ولې جنګ ته د ژوند د نورو ازاررسونکو مصیبتونو په څېرغاړه نه ورکوو؟ اخر جنګ چې یو طبیعي امر تر سترګو کېږي، ژوند ژواک پېژندنې (زیست شناختي) عامل لري او عملاً ورنه ډډه نه شي کېدای. زما له دې خبرې په ډار کې مه لوېږئ. کله چې د یوې موضوع د ارزونې قصد لرو، شاید اجازه ولرو چې د شایستګۍ او برترۍ نقاب چې په واقعیت کې ترې محروم یو، اغوندو او د همدې پوښتنې په ځواب کې ووایو: ځکه هر انسان د ژوند حق لري؛ ځکه د انسانانو پر بندي کېدا هغوی خوار او ذلیله کوي او بندي خانو ته یې لېږدوي؛ ځکه د غوښتنې پر خلاف یې وژنو ته هڅوي؛ ځکه چې ستر قیمتي مادي ارزښتونه یې چې د انسانانو د کار او زحمت پایله ده، نابودوي او ورانوي؛ او پر دې ټولو علاوه، ځکه چې په نننې شکل جنګ نور د پرونۍ قهرمانۍ د تحقق امکان نه لري او په را روانو جنګونو کې به د مدرنو جنګي وسایلو د تکامل په خاطر د جنګ د یوې خوا او یا هم دواړو خواوو کامله نابودي نغښتې وي. دا ټول دومره سم او پر ځای دي چې سړی په حیرت کې لوېږي چې ولې تر ننه د جنګ په مخنیوي او له منځه وړلو کې یوه ټولیزه اجماع او توافق نه دی ترلاسه شوی. د دې هر ټکي په اړه کولای شو چې مناظره او بحث وکړو. اما دا پوښتنه مخې ته راځي چې ایا ټولنه هم د افرادو د ژوند په نسبت باید حق او حقوق و نه لري؟ نه شو کولای چې ټولې جګړې له اساس څخه محکومې کړو. تر څو پورې چې امپراتورۍ، قدرتونه او ملتونه وي او بېرحمانه د نورو د نابودۍ لپاره تیار وي، نور هم باید د جنګ لپاره ځان مسلح کړي. اما په چټکۍ له دې موضوع تېرېږو؛ ځکه دا هغه برخه نه ده چې تاسو دې ورته اشاره کړې وي او یا دې زه ورته بللی اوسم. زما موخه یو بل شی دی. زما په باور د جنګ پر وړاندې زموږ د راپورته کېدو ستر عامل دا دی چې موږ له دې پرته کومه بله چاره نه لرو. موږ سوله غوښتونکي یو، ځکه د اندامي/ ارګانیکي پر دلایلو باید و اوسو. په همدې خاطر را ته اسانه ده چې نظریات مو په استدلال سره توجیه کړو.

ګومان کوم چې دا نظریه له توضیح څخه پرته د درک وړ نه ده. لاندې کوښښ کړم چې خپل نظر مې په روښانه ډول بیان کړم: د انسانانو تر منځ فرهنګي تکامل له ډېر اوږده وخته را پدې خوا دوام لري. ((پوهېږم

چې نور غوره ګڼي چې دې جريان ته «تمدن» ووايي)). په حقيقت کې موږ خپله او ټول هر څه د همدې فرهنګي تکامل منندوی يو. هغه څه چې يو او هغه څه چې نه يو، له هغه څه مو چې ګټه کړې او له هغه څه چې ځوريږو د همدې فرهنګي تکامل د جريان حاصل دی چې علت او پيل يې ناروښانه، انجام يې نامالوم او ځينې ځانګړنې يې په ساده ډول ښکاره دي. شايد چې يو وخت همدا فرهنګي تکامل د بشر نسل له منځه يوسي؛ ځکه لږ و ډېر د جنسي ميل استعمال ته ستر زيان رسوي؛ په داسې ډول چې نن ورځ زاد او ولد په بې فرهنګه نژادونو او په وروسته پاتې ټولنو کې، د نورو بافرهنګه ټولنو او ملتونو په نسبت زيات دی. شايد دغه جريان د يو شمېر مشخصو حيواناتو د ډولونو په اهلي کېدا کې د مقايسې وړ وي. پرته له شکه فرهنګي تکامل يو شمېر مشخص جسمي تغيرات هم له ځان سره درلودل؛ اما دا تصور چې فرهنګي تکامل هماغه «د اندامي تغيراتو جريان» دی، زموږ لپاره تر اوسه بې مانا او د لمس وړ نه دی. د همدې فرهنګي تکامل له لارې تر لاسه شوي تغيرات ښکاره او څرګند دي. دغه تغيرات د غريزي موخو د انتقال له پراختيا او د غريزي هيجاناتو له محدوديت سره مله دي. هغه حسي موندنې چې، تر موږ مخکې وګړي تر موږ زيات لذت غوښتونکي وو او تر موږ يې جنسي ميل زيات درلود، زموږ لپاره تر سويې لوړ او د تحمل وړ نه دی. دا چې زموږ په زړه پورې اخلاقي او ښکلا پېژندونکو غوښتنو تغير کړی دی، اندامي دلايل لري.

د فرهنګي تکامل د ارواپېژندنې د ځانګړنو له منځه دوه ځانګړنې د پام وړ اهميت لري: يو چې پر غريزي ژوند عقل قدرت پيدا کړی؛ او بل د ټولو خطرناکو عواقبو او ګټورو پايلو سره د قهرجنو تمايلاتو دروني کېدل. هغه رواني ليد چې د فرهنګي تکامل جريان يې پر موږ تحميل کړی دی، شديداً له جنګ سره په مخالفت کې واقع دی. په همدې خاطر د جنګ پر وړاندې پريشانه يا مضطربه کېږو او د تحمل وس يې نه لرو. دا يوازې عاطفي مخالفت او عقلاني غبرګون نه دی، بلکې زموږ مظطربه کېدل د زغم ذاتي کموالی دی؛ فکر کړې چې په شديدترين حالت کې بنيادی حساسيت دی. داسې ښکارې، هغه تحقير چې جنګ يې پر ښکلا پوهنې روا ګڼي، له هغه وحشتونو څخه چندان کم نه دی چې زموږ د بيزارۍ او مخالفت سرچينه ده.)) د فرويد او نورو ارواپوهانو خبرې تر ډېره بريده په ارواپي دروني انګېزو کې خلاصه کېږي او ټول نږدې په يوه خوله دي او هغه دا چې د انسان او د هغه دروني حالت، دی جګړو ته هڅوي.

**پايله:**

په لنډو کې که وغواړو چې د جګړې لاملونه نور هم ښه درک کړو نو اړينه ده چې د جګړې په اړوند جګړه مار وپېژنو او په دې برخه کې فردي ارواپوهنې ته پناه ورورو او په سايستوالو څېړنې وکړو او پوه شو چې رهبران او مشران کوم شخصيتونه لري همدا لامل وه چې سياسي ارواپوهنه هم رامنځ ته شوه.

ارواپوهان په دې کار کوي چې څنګه ځينې ټېستونه او پېژندنې رامنځ ته کړي او بيا يې پر سياسيونو او رهبرانو وکاروي او معلومه کړي چې کوم شخص د سياست ډګر ته تللو لپاره مناسب دی او په دې ټېستونو کې په دې اړوند کار روان دی چې څنګه د مقتدر، نيواکګر، منځ لارې او ځانغوښتونکي ځانګړنې په سياستوال کې مشخصې کړي او هڅه به دا وي چې د سياست ډګر ته سم خلک لاره پيدا کړي نه ناروغان او د شخصيتي اختلال لرونکي او د وينو تږي.

په ارواپوهنه کې تل ډېره هڅه په دروني انګېزو شوې او همدا لاملونه تر ډېره بريده اغيزمن هم واقع شوي.



# غل چاته ویل کېږي؟

نوراحمدعایل

غل یوازې په دېوال کور ته ور اوښتونکي او په لاره کې د موبایل او کمپیوټر تښتونکي ته نه ویل کېږي تر دې بدتر او ستر غله دا دي:

√هغه ډاکټر تر ټولو ستر غل دی چې ناروغ خبر هم نه وي او ده ورته بې ضرورته یوه پنډه درمل لیکلي وي او یا یې د فیصدي لپاره لابراتوار او اېکسېرې ته د شپږ شلې معاینو لپاره لېږلی وي او یا د ناروغ بې اړتیا عملیاتونه کوي.

√هغه مستري تر ټولو ستر غل دی چې په موټر یا بله هره نقلیه وسیله کې د یوه نټ کار وي او دی د پیسو او وخت اړولو لپاره د موټر په بېخ پورې نښتی وي، خرابي یې په انجن کې وی او ده یې ټایرونه راخلاص کړي وی او بیا په خپلو تورو لاسونو د ټنډې خولې پاکې کړي او له تا څخه د یوې ورځې پوره مزدوري واخلي.

√هغه مامور او بل هر دولتي او نادولتي مسوول تر ټولو ستر غل دی چې په خپله په انټرنېټ او فیسبوک کې لګیا وي له ملګرو سره چټ کوي او تاته ووایي چې په عریضه پسې دې سبا راشه، ماسپښین راشه، اوس نه یم خلاص مصروف یم.

√هغه چارواکی که ولسمشر وي، وزیر وي یا والي او رییس وي چې په درواغو خلکو ته وعدې ورکوي او دهغوی باور او اعتماد پټوي تر ټولو سترغل دی.

√د ښوونځي یا پوهنتون هغه استاد تر ټولو سترغل دی چې صنف ته بې تیارې او امادګۍ د دې لپاره ننوځي چې هسې درسي ساعت واړوي؛ زده کوونکي او محصلین تختې ته یو، یو جګوي چې شاباش په نوبت راځئ کنفرانس ورکړئ یا یوه موضوع ارایه کړئ.

√هغه درملتون والا او مسوول چارواکي تر ټولو غټ غله دي چې تاریخ تېر درمل پلوري او د صحت عامې د درملتونونو د کنترول چارواکي د ۵۰ افغانیو او یا یو بوتل ټوخي شربت په بدل کې په دې هرڅه سترګې پټې کړي.

√هغه عالم ،ملا، او سپین ږیری ستر غل دی چې خلک یوه مسئله او ستونزه ور مخته کړي او دی حقه خبره نه کوي او د دې لپاره چې دواړه لوري (مدعی او مدعی علیه) راضي وساتي خبرې په خوله کې ژویي او د حق کتمان کوي او یا د یوه طرف حق هم دې بل ته ور نیمایي کړي چې راځئ سوله په نیمایي ښه ده.

غلا یوازې په موټر کې جېب وهل او په لاره دچا مخ ته په نقاب کې دربدل ندي ، یوازې هغه کسان غله ندي چې په لاسو یې ټېټوګان او خالونه وهلي وي،وښې او لاسوندي یې په لاس کې اچولي وي او لوپر غونډې ببر او دخدای په قار ککړ معلومېږي.




غل کېدای شي بهترین عطرونه ووهي ، قیمت بیه ساعتونه په لاس کړي، تکې سپینې جامې او سپین پاچونه په سر کړي، د بهترینو مارکو والا پتلونونه واغوندي او ښې خوږې خوږې خبرې هم وکړي. او کېدای شي یوه ډله خلک هم ولري چې هر وخت یې د دوی په ستاینه خوله شکولې وي.

هغه غله چې له قوارو سوډر او لوپر معلومېږي تر هغو غلو چې شیک پوشان وي او عطرونه وهي خلکو ته لا یو څه دې تحمل وړ دي، خو دا دویم ډول غله چې ځان پاک سوچه او سپین چرګان بولي هیڅ د تحمل وړ ندي.

## بېغیرته پوځ !؟

**یو سړي چغې وهلې (پوځ بېغیرته دی، پوځ بېغیرته دی، پوځ ظالم او جنایتکاره دی، پوځ د پښتنو دښمن او قاتل دی)، دې وخت کې پولیسو ونیو، سړی پولیسو ته وویل: وروره ما خو د اسرائیلو پوځ یاداوه. پولیسو یو څو څپېړې په یو مخ او بل مخ وواهه او ورته ویې ویل: (موږ درته څه احمقان ښکارو، ایا موږ په دې نه پوهېږو چې د کوم هېواد پوځ بېغیرته، ظالم او جنایتکاره دی؟!**





# د وړېښمو کاروان

چلوونکې او مسئوله: شپېه ګهيځ



د وړېښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او ليکوالانو له پيژاند نيولې تر طنزونو، لنډو کيسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بيلابيل ادبي او غير سياسي ليکنې د هنري ذوق څړوبولو او معلومات وړکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختيا او غوړېدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هيله يو.

dawatafghanmedia@gmail.com


## منزه غفورزۍ

## د دعوت د دې ګڼې شاعره

منزه غفورزۍ د عبدالمتين لور، د لغمان ولايت مرکز اوسيدونکې په ۱۹۹۷م کال په پېښور کې زېږېدلې ده. لومړنۍ زده کړې يې د پېښور په جلوزو کمپ کې پيل او وطن ته د راستنيدو وروسته يې د لغمان مستوره ليسه په ۲۰۱۵م کال کې پای ته رسولې ده.

له ښوونځي وروسته يې دوه کاله د لغمان ولايت په دارالمعلمين کې د پښتو ژبې او ادب څانګه کې زده کړې وکړې، په ۲۰۱۷م کال د کانکور ازموينې له لارې د ننګرهار پوهنتون د شرعياتو پوهنځي ته بريالۍ شوه. اوسمهال د ياد پوهنځي د څلورم کال محصله ده. منزه د پوهنتون په څلور کلنه دوره کې د دې تر څنګ چې د پوهنځي درسونو کې بوخته وه يو شمېر مسلکي برنامې لکه حقوقي ليکنې او حقوقي کلينک هم تعقيبولې او د ننګرهار  پوهنتون د مناظرې کلب او د سولې مرکز فعاله غړې هم پاتې شوې ده.

منزه له ۲۰۱٦م کال راهيسې کله چې د پښتو ادبياتو څانګې محصله وه شعر ليکلې، له شاعرۍ سربيره يې له اردو ژبې څخه هم دوه کتابونه پښتو ته ژباړلي.  لومړنۍ ژباړه يې د (مجرم څوک دی؟) په نوم پوليسي ناول دی چې په ۲۰۱۹ م کال کې چاپ شوی دی. دويمه ژباړه يې د (کاميابي ستاسو لارې څارې) په نوم چاپ ته چمتو ده.



د منزې د کلام بيلګې:

### غزل

موده وشوې بې اسرې سمه بيماره يم ښه نه يم
د سکور شوي ژوند وروستۍ سوې کوکاره يم ښه نه يم
تور ښامار د بېوسۍ مې غوښې وخوري او زه خاموشه
يم په خپل کور کې اسيره بې اختياره يم ښه نه يم
ځان به څنګه رسوم د لمر طواف ته نه پوهيږم
راوتلې چې د ستورو له مداره يم ښه نه يم
منزل لرې لاره نشته د رڼا اثر تت شوی
لاروۍ د ورک کاروان يم بې سالاره يم ښه نه يم
چې دې لويه دنيا کې دې يو لويشت هومره ځای نه وي
زه هم هغه بد نصيبه  بې دياره يم ښه نه يم
راته ووايه دا شپه به سبا کېږي که اوږديږي؟
منزې! زه دې جواب ته انتظاره يم ښه نه يم

۲۰۲۱: ۱۱: ۱٦

## غزل

شعرونه څه دي خو دردونه دي نو

سوې سلګۍ سوي آهونه دي نو

بس ما نه مه پوښته چې بيا څه شوي

بې رحمه ژوند دي قيامتونه دي نو

هېڅوک مې نه درک کوي او نو ولې

تاسو او خدای چې د دوی زړونه دي نو؟

له ما نه نه کېږي نور سترې شومه

يو پسې بل راځي غمونه دي نو

دومره مې وازمايه چې وس يې لرم

ژونده دا ستا څومره نازونه دي نو

له منزې يې لاره ورکه کړله

د هجر غشي کمانونه دي نو



## غزل

د کيسو شاته کيسې دي

د خبرو شاته خبرې دي

نقابونه د معصومو

خو په اصل کې فتنې دي

د شيطان عجيبې لومې

د دوی سترګې کې پرتې دي

نه نومونه د چا خپل دي

نه يې خپلې نمونې دي

نه په هوش يې نه بېهوشه

دا نو څنګه پيمانې دي

که دوی خاندي نو په درغو

په خوږو کې يې ترخې دي

عاجزي او شرافت کې

ته به وايې پرښتې دي

د رنګونو تنوع ده

د مخونو نندارې دي

څو بيتونه دې ما وژني

ژړوونکې ترانې دي

څو يادونه نه هيرېږي

غو لړلې خاطرې دي

په مرۍ کې مې ايسارې


هم سلګۍ م اسوېلی دي

نن دې بيا زړه راسپړلی

بيا دې چيغې منزې دي

٦:١:٢٠٢٢

## غزل




د زړه ګوتې مې وره کې د خيال قاتې دي او ماتې دي

بيا مې په تندي خولې راماتې دي او پاتې دي

څو بيتونه وليکم، بيا يې وڅيرم بل پيل کړمه

اوس رانه غزلې هم ميراتې دي او پاتې دي

هر څو که ساتم له بد نظره مې خوبونه خپل

ډيرې هيلې اوس هم په ملا ماتې دي او پاتې دي

نه زه مخامخ کله درتلای شمه ستا مخې ته

ماته راترغاړې ننواتې دي او پاتې دي

مه کوه لوګې د سپيلنو دې منزې ته بس

کرښې د تقدير يې نظر ماتې دي او پاتې دي

## غزل

په کيفيت کې مې له هر چا نه جلا وکړ

باور مې نه شي وې دې دغه ژوند چې ما وکړ

د نقاب پوشو له بدرنګې څېرې ښه خبره

مګر محفل کې يې تعريف هم ما بلها وکړ

څه خير دی مخکې مې د ژوند فلسفه نه وه لوستې

اوس مې مرور د ژوندانه په کتاب بيا وکړ

کرکه له حده مې اوښتې بعضې خلکو سره

ورته د مرګ سوال مې له ربه په رښتيا وکړ

نه نه دا نه وه چې ته وړ وې ګنې زما د رحم

په تا احسان مې د روزنې تقاضا وکړ

له ضرورته مې ډير وکړه حوصله هر چا ته

خود به ختميږي چې مې زغم بې انتها وکړه

# فرښته لرم اخلئ؟

لیکواله: ژولیت

ژباړه: شپېه ګهيځ

ماشومتوب مې لا هم یاد دی هغه وخت چې له ژوند مې څه زده نه و، دا چې ژوند څه دی.

نېوهیدم څنګه یې مخې ته یوسم، د ژوند ټوله هستي او خوښي مې یوازې هغه د لوبو شیان وې چې شپې یې په یاد ویده کیدم د ژر سهار کیدو هیله مې هم د لوبو سامان و. ټوله ورځ مې هماغه نانځکو لوبول وه. له هغوی سره مې هیلې او ټول ژوند تړل شوی و. ښوونځي سره مې مینه وه. خو د ډېرو ستونزو له امله درس ویل ګران شوی و، نه مې شوای کولی د ماشومتوب هیله پوره کم. بیوزله وو. پلار مې مزدورکار و کله مو ډوډۍ ښه او کله به هم له وږیتوب نېوهیدو څنګه ژوند وکو. د کور مشره وم. ورور او خور مې له ما څخه کوچني ول. د ژوند په هر حال مو شکر کول. یوه ورځ مې خور او ورور سره لوبې کولې چې پلار ناڅاپه د غربیۍ دروازې یې خلاصه کړه ما یې د شپې راتګ ته تمه کوله. ډار مې د وجود رګونه وزښبیلې د پلار حالت داسې و ته به وایې چې د زمري له خولې غورځیدلی وی.

هاخوا دیخوا مور پسې ګرځیده او هر څل یې غږ لا پسې لوړیده مور دې چیرې او مور دې چیرې؟

تر څو مور راورسیده، پلار په خواشینی غږ وویل بدبخته شو!

مور وویل نو له داسې وضعیت هم بله بدبختي وي؟ څه شوي مور مې که

........

پلار مې وویل طالبان ټول ښار نیولی او موږ هم لا نور بدبخته شو.

ټول وجود کې مې یوه پوښتنه لکه وینه بهیدله طالبان څوک دي؟ بدبختي یعنې څه؟ او له دې وضعیت به لا هم بدبخته شو؟ د پلار له وضعیت داسې معلومیده چې ریښتیا هم یوې بلې تیارې کندې په لور روان یو. مور هم ژړلې او هم یې خاورې پر سر بادولې. او دا دعا یې کوله خدایه موږ له دې وحشیانو وساتې.

طالبان ما ته عجیب نوم و، خپله نانځکه مې په غیږې کې واخیسته د هغه یتم ماشوم په څیر شوې ومه چې کلونه کلونه یې مور او پلار له لاسه ورکړي. فکر مې ټول طالب شوی و طالبان یعنې څه؟ وحشت یعنې څه؟ بدبختي او ظلم تر کوم حد؟ طالبان انسانان خوري وژني یا هم څه کوي؟

داسې زرګونه پوښتنې مې په ذهن ګرځیدلې. خو څواب او ځواب ورکونکی یې نه لرل. یوازې دا مې یاد دي چې نېوهیدم د دغه وحشت ښکار به یوه ورځ زه هم شم.

پلار ته نور کار نه پیدا کیده، د غربیۍ ورځې په شپې او شپې یې سهار کیده. که ډوډۍ وه اوبه به نه وه او که اوبه وه ډوډۍ به نه وه، د ژمي سړې ورځې مو همداسې تیرولې. مطمینه وم چې د ظلم خراغ تر ډیره روښانه نه پاتې کیږي که نن روښانه وي سبا به نه وي.

داسې ورځ هم راغی چې نور وچه ډوډۍ هم نه وه مور به له سهاره تر ماښامه په سوال کولو هم یوه مړۍ ډوډۍ نه پیدا کوله. یوه ورځ مې لوبې کولې چې له شا مې چا په زور له لاسه کش کړم، نا څاپه وډریدمه داسې مې فکر کولو چې لاس مې پرې شو شاته مې په کتلو مور باندې سترګې ولګیدې.

ویل راځه څو زه یې له هغې کوټې بهر کړم چې چت یې سورې سورې پلاستیکونه و. په خوشحالۍ مې پوښتنه وکړه چیرته ځو؟ ښه ځای دی؟ هلته ډوډۍ شته؟

مور روانه وه څه یې نه ویل او زه هم ورپسې په منډو منډو روانه ومه؛ داسې ځای ته ورسیدو چې هلته یو هلک ناست و مور هلک ته وویل کیدای شي راته ولیکۍ( لور خرڅوم) د دغې څو کلمې په ویلو د مور ژړا زور واخیسته.

زما په وجود کې وینه وچه شوه له هغې ورځې ډېر ورخطا ومه له کومې ورځې چې طالبان راغلي وو.



زړه کې مې عجیبه شور و درزا یې دومره ډېره شوې وه چې ګواکې اوس مې زړه له ګوګله وځي، لور خرڅول؟ یعنې څه ولې باید ما خرڅه کړي؟ مور باندې ګرانه نه یم؟

مور باندې مې غږ کړ؟ ما ولې خرڅوې؟ مور وویل! د مور زړګیه ډوډۍ نه لرو.

پښو ته یې وغورځیدم، زارۍ مې وکړې؛ خو ځای یې ونه نیوله مور په ژړغوني غږ وویل لورې ډوډۍ نه لرو، ورور، پلار او خور به دې څه وخوري، پلار ته دې کار نشته او سوالګرې هم ډیرې دي.

نرۍ مې ړنګه شوه یعنې څه زه د ټولو د ډوډۍ مسووله یم؟ زه یې همدې ورځې لپاره لویه کړې یم؟ زه څوک یم؟

ساه ایستل راته ستونزمنه وه، روح مې له ځانه جلا شوه، په هماغه ورځ په ژوندی کالبوت کې بې روحه شومه. او زه شومه هغه مړې چې ګرځي. دا پېښې زما د زړه په تاریخ کې ثبت شو.

که مې ورسیږي لاس د فلک څرخ ته، ترې به پوښتم زما حق له ژونده دا و؟

# ژبه ګڼې یوازې د غږونو ټولګه ده؟



لیکوال: اربازخان "ساپی"

وايي ژبه د غږونو ټولګه(مجموعه) ده؛ انسان دا غږونه سره یوځای کوي، چې کلمه ترې ورغېږي څو یوه پدیده پرې ونوموي؛ وروسته دا کلمې سره یو د بل په خوا کې پېیي او جملې ترې رغوي چې له جملو بیا وینا رغېږي او د دې وینا له لارې انسان خپل ورځنی ژوند پرمخ بیایي، خپلې ستونزې پرې حلوي، خپلې تجربې له نورو سره شریکوي او افهام و تفهیم پرې کوي.

دلته موږ وینو چې ژبه یوازې د غږونو مجموعه بلل شوې او دا پېژاند نه یوازې د پښتو ژبې بلکې د نورو ژبو پوهانو هم کړی. د دوی پېژاند تر یوه برېده سم دی؛ خو زما په اند بشپړ نه دی. دلته یو څو عملي بېلګې وړاندې کوو او وروسته بیا پر دې غږېږو چې ولې پورتنی پېژاند بشپړ نه دی:

په اسمان کې د وریځو راتګ او یوځای کېدل، موږ ته د وربښت زېری راکوي. کله چې په اسمان کې لمر وینو، نو پوهېږو چې ورځ ده؛ لمرخاته موږ ته د سهار زېری راکوي، کله چې لمر زموږ پر سر وي او تودوخه یې نسبتاً زیاته وي، نو پوهېږو چې غرمه ده او د پرېواته پر وخت یې موږ پوهېږو چې ورځ ختمه ده او ماښام راتلونکی دی.

د لوګي په لیدو سره پوهېږو، چې په یوه سیمه کې اور بل شوی او باید مړ شي؛ نو دې وخت کې اړتیا ده چې اطفاییې سره په اړیکه کې شو څو یاد اور مړ کړي. په استوګنیزو ودانیو کې تر ډېره هڅه کېږي چې د لوګي د تشخیص وسایل نصب شي، څو د اور لګېدنې مخه په ښه ډول سره ونیول شي او وګړي هم وکولای شي چې په وخت سره ځانونه له یادې سیمې وباسي.

یو ښه نقاش تل هڅه کوي چې د خپلې نقاشۍ په وسیله نورو ته یو مفهوم ورسوي او دا مفهوم د انځورنو په منظم کښنلو او د رنګونو په سم استعمال پورې اړه لري. که نقاش په انځور کښنلو کې د پوره تجربې خاوند وي، نو نقاشۍ کې به یې د رنګونو کارول جالب او انځور کښنه منظمه وي او دې سره به یې مفهوم - کوم چې د ده په ذهن کې دی او غواړي نورو ته یې ورسوي- په ښه ډول انتقال کړی وي.

بل خوا یوه سیمه کې چاودنه شوې او د یوې ورځپاڼې عکاس او ریپوټر سیمې ته تللي او هڅه کوي داسې انځورونه واخلي چې پېښه پکې په بشپړ ډول روښانه شي او په دې هڅه کې هم دي چې لیدونکو ته داسې یو انځور وړاندې کړي چې پکې له دا ډول کړنو څخه د خلکو کرکه را وپاروي، مثلاً: یو دولس کلن ماشوم، چې سور بنین او اسماني رنګې پتلون یې اغوستی، له سر یې وینې روانې دي او پر ځمکه پروت دی؛ ورسره په څنګ کې یې د ښوونځې بکسه پرته ده چې کتابونه ترې بهر راوتلي. دا انځور موږ ته ښکاروي چې په چاودنه کې د ښوونځیو د ماشومانو په ګډون ګڼو خلکو ته هم مرګ‌ژوبله اوښتې ده او دې سره دا انځور له دا ډول کړنو د خلکو کرکه راپاروي، ځکه انسان عاطفي دی او د دا ډول انځورونو په کتلو سره پکې طبعاً د کرکې روح راپارېږي.

اوسنۍ نړۍ ته برېښناییزه او ډیجیټلي نړۍ وایي او موږ ټول په خپل ورځني ژوند کې له برېښنایي توکو کار اخلو. که مو پام شوی وي، برېښنایي توکي (کمپیوټر، موبایل، تلویزیون، سه‌ساکټه او ...) د روښانولو یوه ځانګړې بټن لري او پر هغه بټن د (0 او 1 ) نښه وي، چې د (0) نښه د بند یا قطع معنا او (1) د روښانولو او جریان معنا لري او یا هم د (0) منځ کې (1) راغلی وي، چې په یوځل کېکاږلو سره برېښناییز توکی روښانېږي او په بل ځل کېکاږلو سره بندېږي. دا نښه موږ ډېری د تلویزیون په ریموټونو کې هم لیدلی شو.

که پورتنیو بېلګو ته ځیر شو؛ له هرې یوې بېلګې موږ یو ځانګړی مفهوم اخلو؛ که هغه د وریځو راتګ وي، که د لمر خاته وي، که نقاشي و عکاسي وي، که د برېښناییزو توکو د روښانولو او بندولو بټن وي او که هغه د اوازونو یوځایوالی وي. د دې ټولو دنده افهام او تفهیم دی. نو ویلی شو چې ژبه یوازې د اوازونو مجموعه نه ده، کوم چې موږ په لومړي سر کې یاده کړه. د ژبې تر ټولو لومړنۍ دنده افهام و تفهیم دی، که هغه په هر ډول وي.

که موږ پر انساني ژبه غږېږو او دلته ژبه د انسان له‌پاره قیدوو، بیا دا خبره سمه ده چې ووایو ژبه د غږونو مجموعه ده. خو که خبره عمومي کوو بیا ژبه یوازې او یوازې د افهام و تفهیم دنده سرته رسوي او بس.

نو دا چې زموږ په کتابونو کې ژبه یوازې غږیز سیستم بلل شوی، یو څه د تامل وړ ښکاري. ځکه ژبه نه یوازې غږیز سیستم دی او نه غږ یوازې انسان پورې منحصر دی، بلکې د انسان په ګډون ژوي هم ځانګړي غږونه لري او د دې ترڅنګ طبیعت کې هم ځیني غږونه شته چې موږ ته د یو څه په اړه پوهاوی راکوي او دا ژبه ده چې موږ ته پوهه انتقالوي او پر یو څه مو پوهوي.

د ډېریو پوهانو له نظره ژبه په دوو ډولونو وېشل شوې، چې یو انساني او بل هم حیواني ده. خو زما په اند په ټوله کې ژبه په شپږو ډولونو وېشل کېږي:

١ – انساني ژبه ٢ – حیواني ژبه ٣ – د طبیعت ژبه ۴ – انځوریزه ژبه ۵ – د کمپیوټر ژبه ٦ - د نښا ژبه

اوس راځو د هر یوه پېژاند ته:

### 1 – انساني ژبه:

انساني ژبه د هغو اوازونو او اشارو مجموعه ده چې انسان یې د خپلو فکرونو او خیالونو د څرګندولو لپاره تر یوه ځانګړي نظم او سیستم لاندې کاروي. په انساني ژبه کې غږ او غړي مهم رول لري؛ چې په ملتیا یې مفاهیم په ښه ډول لېږدول کېږي.

انسان غږونه په منظم ډول سره یوځای کوي او له دې غږونو کلمې رغوي، له کلمې جملې او دا جملې دي چې زموږ وینا رغوي او د افهام و تفهیم دنده په ښه ډول سر ته رسوي. بله غړیزه ژبه ده، چې دا هم د انساني ژبې یوه ځانګړې خاصه ده. له دې لارې هم انسان کولی شي، چې په ښه ډول افهام و تفهیم وکړي. کله چې انسان غږېږي نو طبعاً د وینا پر مهال خپل غړي؛ لکه: لاسونه؛ ډېر زیات خوځوي، څو په ښه شان سره افهام و تفهیم وکړي.

په انساني ټولنه کې ځیني داسې کسان اوسېږي چې د غږ ایستلو له نعمته محروم دي او هغه بې‌ژبې یا ګونګیان دي. زده کړېزو مرکزونو د کلونو په اوږدو کې هڅه کړې،

چې ددې ډول انسانانانو لپاره غریزه ژبه ورغوي، ځو دوی په اسانۍ سره خپل افکار تر نورو ورسوي او د نورو پر خبرو ځانونه وپوهوي.

پر انساني ژبې ډېرې خبرې کېدای شي، خو دا چې موږ له موضوع لرې لاړ نه شو، نو دا موضوع همدلته ختموو او بلې موضوع ته راځو.

**2 – حیواني ژبه:**

یوه ورځ په نشه‌يي توکو یوه روږدي کس په نابېره توګه یو سپی په لغته وواهه، سپي ټوپ کړل او له خپله ځایه اوچت شو. دې وخت کې یې غپا وکړه او دې غپا سره یوځای نور سپي په بېړه پیدا شول او پر هغه کس - چې سپی یې په لغته وهلی و- راټول شول. له دې بېلګې دا نتیجه اخلو چې حیوانات هم ځانګړې ژبه لري.

هغه اوازونه چې د یو ځاروي یا ځناور له لوري کارېږي هغه حیواني ژبه ده. د دې ژبې په ملتیا یو حیوان ځان او نور له خطرونو ژغوري، یا د لوړې پر مهال هڅه کوي ځیني غږونه وباسي یا ځیني ځانګړي حرکات تر سره کړي. دوی د دې کړنو په وسیله غواړي موږ وپوهوي چې وږي دي او خواړه غواړي.

د نړۍ پر مخ ټول موجودات د اړیکو د ټینګولو یو ځانګړی سیستم لري، که هغه انسان وي یا هم حیوانات. په حیواناتو کې موږ وینو چې دوی د ځینو مفهایمو د رسولو په موخه غږېږي، مثلاً: مرغان سندرې وایي، سپیان غاپي، پیشکې میو میو کوي او نور ژوي بېلابېل اوزونه وباسي. دوی ځان ته د اړیکو د ټینګولو له خاص سیستم څخه برخمن دي، چې همدا د دوی ژبه ده. خو یوه خبره باید هېره نه کړو او هغه دا چې د انساني ژبې ساحه نسبت د حیواناتو ژبې ته پراخه ده. انساني ژبه د دې جوګه ده چې هر څه بیان کړي، خو د حیوناتو ژبه د انساني ژبې پر وړاندې کمزورې ده، ځکه دوی یو ډول خاص او محدود غږونه لري چې په ځانګړي وختونو کې یې کاروي. خو انسان بیا د دې وړتیا لري چې هر ډول غږونه ادا کړي، د غږونو له یوځای کولو کلمې ورغوي او له کلمو بیا جملې؛ مګر حیوان دا چاره نه‌شي ترسره کولی.

**3 – د طبیعت ژبه:**

که تاسو ځیر شئ او وګورئ، د پسرلي په راتګ سره هر نبات زرغونېږي، ونې پاڼې کوي، هوا معتدلېږي، ورځې او شپې برابرېږي؛ په اوړي کې هوا ډېره توده وي او ورځې اوږدې وي؛ په مني کې یوځل بیا هوا متعدلېږي، ورځې او شپې سره برابرېږي، خو نباتات ورو ورو مړاوي کېږي، د ونو پاڼې ژېړېږي او بلاخره دا پاڼې رژېږي، پر ځمکه را غورځي او هوا ورو ورو د سړېدو خوا ته ولاړه شي؛ په ژمي کې بیا شپې اوږدې وي او ورځې لنډې؛ هوا سړه وي، ونې هم شنډې وي او ځای ځای واورې په سپین رنګ ځمکه پوښلي وي، نو پوهېږو چې ژمی دی.

د کال د هر فصل په بدلون سره موږ ځیني شیان وینو او احساسوو چې بدلون کوي او دا موږ ته د وخت د بدلون په اړه پوهاوی راکوي او همدا د طبیعت ژبه ده. په لنډه توګه ویلی شو: هغه طبیعي بدلونونه چې انسان ته د یو څه په اړه پوهاوی ورکړي د طبیعت ژبه بلل کېږي.

**4 – انځوریزه ژبه:**

په لرغوني مصر کې انځوریز لیک مروج و. دوی به د ځینو مفاهمو د تشریح او بیان له‌پاره انځورنه کارول. دا انځورونه به یې خوا په خوا اېښودل چې یو څه بیان کړي. د وخت په تېرېدو سره د انسانانو غوښتنې زیاتې شوې او دې سره مفاهیم هم زیات شول، نو د دومره ډېرو انځورو یادول او خوا په خوا کې اېښودل خلکو ته ستونزمن شو؛ نو اړ شول چې د هر غږ لپاره انځور وټاکي، چې وروسته دې انځور ته توری او ګرافیم وویل شو. انسانانو له دې لارې د ژبو لپاره لیکدودونه ورغول چې  زده‌کړه یې نسبت مصري لیک ته اسانه وه او خلکو په اسانۍ سره زده او خپلې ستونزې پرې حلولې او دې سره علم او انساني تمدن پرمختګ وکړ.

یا یو انځورګر یا نقاش د خپلو انځورمو او نقاشیو په وسیله د یو څه د بیان هڅه کوي؛ مثلاً: یو نقاش په خپل تابلو کې ؛ یو ماشوم چې سپینه کوتره له قفسه ازاده کړې؛ نقاشي کړې. دا تابلو موږ ته د ازادي فکر راکوي ځکه چې سپینه کوتره په ټولو ټولنو کې د ازادۍ سیمبول دی. دلته نقاش هڅه کړې چې د نقاشۍ په وسیله مو د ازادۍ په ارزښت وپوهوي. همداراز انځورګر (عکاس) د انځورنو په اخیستلو سره د یو څه د بیان هڅه کوي، کېدای شي دا انځورونه ساکن وي چې موږ یې عکس بولو او یا هم متحرک وي چې موږ ورته ویډیو وایو. نو ویلی شو هغه انځور که هغه تابلو، رسامي، لیکلدود او یا هم عکس وي - چې پکې متحرک او ساکن عکسونه راځي ـ او د افهام و تهفیم دنده سر ته ورسوي، ورته انځوریزه ژبه وایي.

**5 – د کمپیوټر ژبه:**

هغه ژبه چې په کمپیوټري وسایلو؛ لکه: کمپیوټر، مبایل، تلویزیون، اې‌ټي‌اېم ماشین او نورو ورته وسایلو کې کارېږي او په ملتیا یې سافټویرونه د پروسېس وړ ګرځي، دې ته د کمپیوټر ژبه وایي. د کمپیوټر ژبه عبارت دی له ( 0 او 1 ) څخه، یعنې د مثبت و منفي یا قطع و وصل ژبه. دا د کمپیوټر د پروګرام لیکنې یا جوړولو ژبه ده. پرته له دې موږ نه شو کولی کمپیوټري پرواګرامونه جوړ او ترې کار واخلو. په نړۍ کې چې څومره کمپیوټري وسایل موجود دي، د دې ټولو وسایلو پروګرامونه له همدې (0 او 1) څخه جوړېږي چې وروسته د پروسېس جوګه ګرځي.

په نړۍ کې د کمپیوټري پروګرامونو د لیکنې او جوړولو خورا ډېر سافټویرونه شته چې پکې (C++)، (Visual Basic) او (Smalltalk) خورا ډېر مشهور دي. د دې سافټویرونو له لارې موږ کولای شو کمپیوټري پروګرامونه، لکه: ګیمونه، د ډیزان سافټویرونه، د لیکلو لپاره سافټویرونه او نور جوړ کړو.

دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې (0 او 1) له کومه را پیدا شول؟

پوهان یې ځواب داسې ورکوي: اوسنۍ نړۍ له یوې لویې چاودنې منځ ته راغلې ده او دې ته په انګلیسي کې (Big bang) وایي. تر بېګ‌بانګ مخکې ټول کاینات سره یوځای او د یوې مادې په شکل په یوې دایرې کې موجود ول، چې د (0) فکر له همدې ځایه راغلی، وروسته دې مادې چاودنه وکړه او اوسنۍ نړۍ ترې منځ ته راغله. تر لویې چاودنې وروسته په فضاء کې انرژي، جاذبه، وخت او نور.. پیدا او خواره شول او له دې لارې د (1) فکر، چې د جریان معنا لري، منځ ته راغی.

**6 – د نڅا ژبه**

په ځینو دینونو کې نڅا یو خاص ارزښت او مفهوم لري، چې په وسیله یې پیروان غواړي ځان له خپل معبود سره یوځای کړي. له نڅا څخه دوی د عبادت په شکل کار اخلي او کوم حرکات چې دوی د نڅا په وخت ننداري ته وړاندې کوي یو خاص مفهوم لري؛ نو دې ته د نڅا ژبه وایي. په اسلامي تصوف کې موږ "سماء" لرو.

اربازخان "ساپی"
کابل – نهمه ناحیه

2022/Feb/06

# د بدن د دفاعي سیستم پیاوړتیا

## ژباړه ـ ریاض مقامزی

موږ هره ورځ داسې خواړه خورو، هوا تنفس کوو او کار کوو، چې زموږ بدن ته د ناروغۍ خطر پېښولای شي؛ خو بیا هم نه ناروغېږو. شاید تاسو ته پوښتنه پیدا شوې وي، چې د میکروبونو له کبله خو انسان ناروغېږي، نو هغوی چې تل له ککړ چاپیریال سره په تماس کې وي، ولې نه مریض کېږي؟

ځواب یې ساده دی. موږ یې نه حس کوو؛ خو زموږ د بدن دفاعي سیستم شپه او ورځ له ناروغیو سره په جګړه بوخت وي او په دې هڅه کې وي، چې د ناروغیو مخه ونیسي.

تاسو به هم لیدلي وي، چې ځینې خلک ژر او ځینې بیا په اسانۍ نه ناروغ کېږي. ددې راز دا دی، چې د بدن د پیاوړي ایمني (دفاعي/معافیتي) سیستم لرونکي کسان ژر نه ناروغېږي؛ خو برعکس د کمزوري دفاعي سیستم لرونکي کسان ژر ناروغېږي. موږ په دې لیکنه کې پر همدې خبرې کړي، چې څنګه کولای شو، د خپل بدن دفاعي ځواک پیاوړی کړو.



### د بدن معافیتي سیستم

لکه څنګه چې مو وړاندې وویل، دا سیستم د بدن داسې ځواک دی، چې د ناروغیو په مقابل کې زموږ او ستاسو د بدن ساتنه کوي او روغ مو ساتي. کله چې وایرسونه، میکروبونه، بکتریاوې او یا نور مضر موجودات بدن ته داخل شي، ایمني سیستم یې پر وړاندې جګړه پیلوي او کله چې دا جګړه وروستۍ شېبې ته ورسوي پر موږ درد، تبه، خوله او د ناورغۍ نور علایم ښکاره شي او ناروغي مو وځوروي.

په هر حال؛ که غواړئ ژر په ناروغۍ اخته نه شئ او د بدن د دفاع پیاوړی سیستم ولرئ نو دا لارښوونې حتما عملي کړئ.

### لومړی | پوره خوب وکړئ!

اکثریت خلک د بېلابېلو عواملو له کبله خپل خوب نه شي پوره کولای او ورو ـ ورو یې د بدن دفاعي ځواک کمزوری کېږي. نو تاسو باید هڅه وکړئ چې خپل خوب پوره کړئ. خو پوښتنه دا ده، چې څو ساعته خوب زموږ لپاره مناسب دی؟

ستاسو عمر ته په کتو د خوب وخت مو فرق کوي. ماشومان باید په ځلرویشت ساعتونو کې نږدې ۹ یا ۱۰ ساعته خوب وکړي. د ځوانانو د خوب اندازه له ۷ تر اته ساعتونو ده او مشران باید پنځه یا شپږ ساعته خوب وکړي.

### دویم | غذایي رژیم مو سم کړئ!

اکثریت کورنۍ خوښوي، چې غوښې، پلونه او کړایان وخوري. دوی فکر کوي، چې په دې سره به یې بدن پیاوړی شي؛ خو خبره برعکس ده. که غواړئ د بدن دفاعي ځواک مو پیاوړی شي، نو د غوښو پر ځای سبزي او مېوې د خپل غذایي رژیم برخه کړئ. په دې توګه به د ناروغیو پر وړاندې مقاوم شئ او ژر به په ناروغیو نه اخته کېږئ.

### درېیم | پاکۍ ته پاملرنه وکړئ!

دا سمه ده، چې زموږ بدن د میکروبونو او نورو خطر پېښوونکو پدیدو سره د جګړې ځواک لري؛ خو دا پدې معنا نده چې موږ دې نور د پاکۍ په فکر کې نه شو. که تاسو د پاکوالي په اړه بې غوره شئ، نو د میکروبونو سره د پرله پسې جګړې له امله د بدن دفاعي ځواک کمزوری کېږي او خپل قوت له لاسه ورکوي او پدې توګه تاسو به ډېر ژر په ناروغیو اخته کېږئ.

### څلورم | ورزش وکړئ!


د ورزش له ګټو نورو ګټو خو به هسې هم خبر یئ؛ نو پر دې هم پوه شئ، چې ورزش کول ستاسو د بدن ایمني سیستم پیاوړی کوي او د ناروغیو په مقابل کې ستاسو د مقابلې وړتیا لوړوي. که غواړئ ژر ناروغ نه شئ؛ نو همېشه ورزش کوئ. ډېرو امکاناتو ته اړتیا نشته، یوازې د ورځې نیم/ یو ساعت منډې وهل هم ستاسو د بدن لپاره کافي دي.

له دې ټولو سره ـ سره دا لارښوونې هم تعقیبوئ!

- وزن مو ډېرېدو ته مه پرېږدئ
- له ذهني فشار څخه ځان وژغورئ
- سیګرټ، نسوار، الکول او چرس مه څښئ!

# استاد ګلزمان خپلې اوښکې تويول بند او خپل غږ له ځانسره يووړ

## د سندرغاړي، مصنف او کمپوزيتور استاد ګلزمان مړينه



د استاد ګلزمان د هنري ژوند زېرمتون ته که سر ورښکاره کړو، هلته لېدل کېږي چې د ده د وطني یا ملي ترانو تله ډېره درنه ده. ګلزمان توانيدلی دی چې د همدې ملي ترانو له لارې د خپلو هېوادوالو، په تېره د نوي نسل د ذهن په کرونده کې د وطن د مينې زړی وکري، هغوی ته د وطن ارزښت تشريح او د وطنپالنې درسونه وړاندې کړي، نو بېځايه به نه وي چې وويل شي: استاد ګلزمان د حماسي او وطني سندرو تر ټولو برلاسی او مخکښ سندرغاړی و.
(آصف بهاند)

د بېشمېره ستاينليکونو او ګنشمېر مډالونه ګټونکی هنرمند، هغه څوک چې کوراکور يې خوښې ويشله او هر زړه ته يې ارامتيا ورکوله، نور نو نه پر خپل غربت باندې اوښکې تويوي او نه هم له کوم چا نه د ده په حق کې د کړو جفاګانو شکايت کوي، ګلزمان خپلې اوښکې بندې او د شکايتونو پېټی له ځانسره واخيست او د خدای دربار ته ورروان شو. ميډيا د سندرغاړي، مصنف او کمپوزيتور استاد ګلزمان د مړينې خبر خپور کړ.

د استاد ګلزمان د هنري ژوند زېرمتون ته که سر ورښکاره کړو، هلته لېدل کېږي چې د ده د وطني يا ملي ترانو تله ډېره درنه ده. ګلزمان توانيدلی دی چې د همدې ملي ترانو له لارې د خپلو هېوادوالو، په تېره د نوي نسل د ذهن په کرونده کې د وطن د مينې زړی وکري، هغوی ته د وطن ارزښت تشريح او د وطنپالنې درسونه وړاندې کړي، نو بېځايه به نه وي چې وويل شي: استاد ګلزمان د حماسي او وطني سندرو تر ټولو برلاسی او مخکښ سندرغاړی و.

استاد ګلزمان پښتو فولکلوريکي موسيقۍ ته دومره کاروکړ چې ډېرې ښکلې او هېرې فولکلوريکې سندرې يې په داسې انداز کې ووېلې چې له مړينې يې وژغورلې او د تل لپاره يې د افغانستان او نړۍ د سندرو په ارشيف کې يو ځانګړی ځای ورته پيدا کړ.

دا لاندې لنډۍ هسې نه ده تخليق شوې، د استاد ګلزمان په غږ او هنر کې همدومره قوت او ښکلا شته وه چې کومې پښتنې پېغلې به دا لنډۍ د زړه د اواز په توګه تر خولې ورته راايستلې وي:

زه په راديو مېينه نه يم
زه د راډيو په ګلزمان مېينه يمه

مونږ د استاد ګلزمان ترمړينې پورې نه وو توانېدلي چې د خپل وطن د هنر او فرهنګ د دې حقداره نوميالي او د سندرو د دنيا د دې بلبل بيوګرافي په ميډيا کې خپره کړو او د ده د پرباره ژوند اړخونه روښانه او د ګڼو هنرونو د ارزښت په باب يې څه ووايو، د نورو دې کور ودان وي چې په فارسي ژبه يې د استاد ګلزمان ډېره لنډه او ګوډه ماته بيوګرافي په ويکيپېډيا کې خپره کړې ده، دا يې متن دی:

«گل‌زمان از ویکی‌پدیا، دانشنامهٔ آزاد
گل‌زمان در سال ۱۳۱۸ در ولایت پکتیا زاده شد. او آوازخوان مشهور ولایت خوست است. علاوه بر آهنگ‌سرایی نوازنده و آهنگ ساز نیز است. در سال ۱۳۴۳ با رادیو کابل همکاری را آغاز نمود. گل زمان در سال ۱۳٦۱ جایزه آهنگ‌سرای درجه دو در سال ۱۳٦۲ جایزه آهنگساز درجه یک را در افغانستان بدست آورد. گل زمان بیشترین آهنگ‌های پشتو را در رادیو افغانستان خوانده است. به صدای او بیش از ۸۵۰ آهنگ در آرشیو موسیقی رادیو افغانستان و بیش از هشتاد آهنگ در آرشیو تلویزیون ملی افغانستان موجود است.»

د همدې کربښو د ليکلو په ترځ کې د استاد ګلزمان له يوې لنډې بيوګرافۍ سره مخ شوم چې د پوهاند صاحب دوديال په قلم تازه ليکل شوې او د ده د مړينې په پار پر ليکه شوې ده. دا بيوګرافي به هم د استاد ګلزمان هنري خدمتونو په پار او د دې مقالې د لا غنا په پاره راواخلم:

«د استاد ګلزمان لنډ ژونديک

اروابناد استاد ګل زمان په ۱۳۱٦ ل.= ۱۹۳۷م. کال کې د خوست د اوسنی ولايت دعليخيلو د ولسوالی د "چينه " کلی سيمه کې نړۍ ته سترګې پرانيستې او وروسته بيا په ۱۳۴۳ل. کال کابل ته راغی. هغه له ځلميتوب څخه ټنګ- ټکور سره مينه لرله ، په څوارلس کلنۍ کې يې له خپلو دوو مشرانو ورونو؛ امان الله او مشعل سره په خپله سيمه کې هنری فعاليتونه پيل کړل. مشرانو ورڼو يې يوه طبله او بل باجه(هارمونيه) غږوله. په دې ډول سره د دوی هنری ډله پوره وه. کله يې چې راډيو ته مراجعه وکړه، دخپل ښه استعداد له مخې ومنل شو. په کابل راډيو

کې یې لومړنی ثبت شوی محلی سندره داسی ده:

آی ! غونډې منډې – دا تورې زلفې جوړې که
په ټنډې – له باغه گلان راوړه


وروسته ترهغه یی دافغانستان په راډیو او تلویزیون کې تر ۸۵۰پورې سندری ثبت او ضبط شوی دي. په ملی تلویزیون کې یې همدا اوس ۸۰سندرې شته. له ثبت شویو سندرو سره یی ټولی ۲۰۰۰سندری ویلی دی. یعنی ټولی د رادیو ارشیف کی نشته، بلکی تر نیمایی لږ کمی یی د ثبت او ضبط په بڼه لرو.

استاد گل زمان په ۱۳٦۱ل. کال کې په سندرو ویلو کې دوهمه درجه جایزه ترلاسه کړه او په ۱۳٦۲ل. کال یی دسندرو په کمپوز کولو او طرز جوړلو کی دوهمه درجه هنری جایزه ترلاسه کړی ده. د رادیو افغانستان ټولو هنرمندانو ورته ډیر درناوی درلود. زیاتره یی د شاگردی حیثیت لری او د دوی زیات شمیر سندری یی کمپوز کړی دی. له پخوانیو هنرمندانو برعلاوه؛ نوي نسل هنرمندانو ته هم ډیر گران و او ورته درناوی یې درلود. آریانا سعید څه موده وړاند ی د خپل فیسبوک په پاڼه باندې داسې لیکلی و : " یاد استاد گل زمان تا ابد از طریق آهنگ و خدماتش در موسیقی ، زنده خواهد ماند."

اوس یی د هنری فعالیت شپیته کاله کیږی. دغه موده کې یی زموږ د ملی فوکلور او ولسی سندرو په ژوندی ساتلوکی ډیر زیار گاللی دی. هغه د افغانی ملی کلتور او فرهنگ دمعرفی او بهرنیو هیوادو کی د کنسرت ورکولو په موخه د افغانستان نورو هنرمندانو سره ډیر بهرنی سفرونه کړی و. نوموړی د چمبې( دایری) په برخه کی یواځنی هنرمند بلل کیږي، اما د هارمونیی استاد یی هم بولي. غږ یی ډیر سندریز او زړه ښکونکی و او حماسی سندرو کې بی جوړی و.

د ده د وینا له مخې: نوموړی د ځوانی په عمر، د سیمی څو مشرانو کابل راډیو ته معرفی کړ. هغه وخت یی ورور ورسره باجه غږوله، وروسته یی ورور وفات شو. نوموړی یوه خاطره کې ویلی و چې زموږ معاش هغه وخت ٦۰۰ افغانی و. لومړنی بهرنی سفر یی تاجکستان او بیا ازبکستان ته و. وروسته یې هندوستان، ایران، پولند، روسیی، منگولیا او آلمان ته هم رسمی سفرونه کړی دی، چې له غوره مډالونو او ستاینلیکونو سره راستون شوی و. دهیواد دننه یی دسروزرو، سپینو زرو او ژیړو(برنج) مډالونه ترلاسه کړی دی. دکوزې پښتونخا دپښتنو او بلوڅو د اوسیدو بیلابیلو سیمو کې گرځیدلی لکه :

وزیرستان، واڼه، دیر اسماعیلخان، کوهاټ، کُرمه، کوټه، سوات او د ختټکو علاقه. دافغانستان تقریباً ټولو ولایتونو ته تللی او خلکو یی ډیر ټود هرکلی کړی دی.



د موسیقی په برخه کې یې ټول ۴۱شاگردان روزلی دی. دهیواد دننه هنرمندانو څخه برعلاوه یې، د کوزې پښتونخوا هنرمندانو؛ میرمن گلنار بیگم او هدایت الله ته یې هم کمپوز کړی دی. ده له محمددین زاخیل سره په راډیو کی د دیری او حجری مجلس هم تنظیم کړ. "دطاووس ښکه" رادیویی پروگرام پروډیو سری هم کړی ده.

د ده یوه محلی خوږه سندره داسی ده:

شنه شنه دی خالونه
خیالی اوربل دی جوړ کړه ولونه ولونه
ځان درسره جوړکړه – دچم ژښې توتیان نجونه بلبلی...

د کاکړی غاړی یوه بیلگه یی دا ده:

توره شپه ده، توره خونه
شین خالی نده معلومه
توره شپه به خدای سبا کړی
شین خالی به خدای پیدا کړی

دغه سندره یی د هر افغان په ژبه ده:

دا وطن ودان وطن دا د هر افغان وطن
دا پرمونږه گران وطن
خاوره د غیرت ده زلزلی لری توفان لری –
غرونو کی بازان لری
دا پرمونږه گران وطن

اروانباد استاد گلزمان لس کاله مخکی د ملا په درد اخته شو، ترطبی جراجی اوعملیات څخه وروسته لږ څه روغ شو، خو بیا یی د لویدو له امله پښه ماته شوه، نو څکه وروستیو کلونو کی په لکړه گرځید.

استاد پنځه ویشت کاله مخکی د حج فریضه ادا کړی وه، تل به یی لمونځ کاو او جومات ته به ته. په ولس کی یی ډیر محبوبیت درلود، هیڅوک ورڅخه بده خاطره نه لری، یو بی آزاره ، متواضع او په ملی فرهنگ سمبال شخص و. استاد گلزمان په وروستیو کې ناروغ و، د جمعی په ورځ چې د۱۴۰۰ل. کال د کب د میاشتی له شپږمی سره برابره وه، په کابل کی د۸۴کالو په عمر وفات شو(اناالله وانا الیه راجعون). پاک پروردگار دی فردوس جنت ورته نصیب کړی.»

د استاد گلزمان پر مړینه باندې د ځینو برېښنايي پاڼو پیامونه، رپوټونه او د فرهنگیانو څو نظرونه او د خوا خوږۍ پیامونه:

تاند:

**«نامتو هنرمن استاد گلزمان وفات شو**

تاند (شنبه، د حوت ۷ مه) د افغانستان نامتو سندرغاړی استاد گلزمان، چې له یوې مودې راهیسې ناروغ و، د ۸۴ کلونو په عمر وفات شو.

استاد گلزمان په ۱۳۱٦ لمریز کال په خوست ولایت کې زېږېدلی او لومړی پلا یې په ۱۳۴۳ لمریز کال د افغانستان په راډیو کې سندرې پیل کړې.

د ده لومړنۍ سندره (غونډې منډې دا تورې سترگې جوړې کړې په ټنډې) وه.

ویل کېږي چې د افغانستان په ملي راډیو – تلویزیون کې د استاد ګلزمان نږدې ۹۰۰ سندرې ثبت شته.

ده کمپوزونه هم جوړول او ګڼ کمپوزونه یې نورو سندرغاړو ته هم جوړ کړي دي خو ډېر شهرت یې د فولکلوریکو سندرو او حماسي ترانو په خاطر ترلاسه کړی و.

ګلزمان په خپل ژوند کې د ډېرو نورو افغانانو په شان ډېرې لوړې ژورې ولیدې. د مجاهدینو له واک ته رسېدو او د خپلمنځي نښتو له پیلېدو وروسته پېښور ته لاړ خو د حامد کرزي له واک ته رسېدو وروسته بېرته کابل ته راغی خو په نوې دوره کې د دې لپاره چې حکومت د پخوانیو دورو په شان د هنرمندانو ملاتړ نه کاوه، ګلزمان له سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ و.

د استاد ګلزمان په مړینه ډېرو افغانانو خواشیني ښکاره کړې ده.»

**افغان جرمن پورټال:**

«د خواخوږۍ او تسلیت پیام

په خواشینۍ سره مو د خپګان دا خبر تر لاسه کړ چې د افغانستان د موسیقۍ د بڼ یو بیساری بلبل استاد ګلزمان له دې فاني نړۍ څخه کډه وکړه.

اناالله و انااليه راجعون

استاد ګلزمان د افغانستان په موسیقۍ کې ځانګړی دریځ او خپل سبک درلود، ده سندرې ویلې، تصنیفونه یې جوړول او په کمپوز جوړولو کې یې ځانګړې مهارت درلود. ګلزمان په اوسني فرهنګي بهیر او په ځانګړې ډول د افغانستان په معاصره موسیقۍ کې د حساب وړ کارونه وکړل او شتمنه فرهنګي زېرمه یې نویو نسلونو ته د میراث په ډول پرېښوده.

موږ د استاد ګلزمان مړینه، د افغانستان فرهنګي ــ هنري کړیو ته لویه ضایعه ګڼو او په دې نظر یو چې دا تشه به تر ډېرو پورې ډکه نه شي.

افغان جرمن کاري ټیم د استاد ګلزمان له کورنۍ، لارویانو او د هنر له مینوالو سره په دې لوی ویر کې ځان شریک ګڼي، استاد ته جنتونه او کورنۍ ته یې د لوی زغم هیله کوي.


افغان جرمن پورټال کاري ټیم»

نعمان دوست:

د کابل په شاه شهید کې د دوستانو یوه ورکشاپ کې ناست وم. یو کوریایي کرولا ډوله موټر راغی. عینکو والا سړی ترې راښکته شو، سترګو ته مې اشنا ښکاره شو او چې ښه مې یقین راغی؛ نو مخې ته یې لاړم. ما ویل: استاذ ګل زمان؟

موسک شو: بلې.

سترې مشي مو وکړل، ورته ویل مې: ستا غږ مې ډېر خوښېږي.



پر وچو شونډو یې لنډه موسکا ونڅیده او دې موسکا د ټولو هغو محرومیتونو کیسې وکړې، چې دلته یې دغه شان بې ازاره خلک لري.

خبر دی چې نن دغه شان یو محروم خو د سُر او تال شتمن انسان له دې بې قدره خلکو وکوچید او د تل لپاره یې پر خوله لاس کېښود.

له ده به څه پاتې شي، بس د هغه امریکایي شاعر *خبره؛

سندرې یې زمزمه کړې او کلونه وروسته به هم د ملګرو پر شونډو نڅیږي

ده،

غشی و نه ویشت چې د کومې تنکۍ څېړۍ په سینه کې ښخ پاتې شي.

الله دې وبخښي

---

Henry Wadsworth Longfellow
(February 27, 1807 – March 24, 1882)

مشهور شعر

«Arrow and song

مزمل هوتک:

«په افغانانو کې د لیکوال، څېړونکي، ښوونکي، هنرمند او بل هر فن کار او کسبګر قدر ډېر کم لیده شي.

په ژوند یې هیڅوک هم لاسنیوی لاځه، چې خبرو ته یې نوبت هم نه ورکوي او کله، چې په ابدي سفر وکوچیږي بیا د هغه د فن کارۍ او ښه شخصیت نغارې غږوي حال دا، چې د کفن او خیرات پیسې به یې ډېرې په تکلیف له ګاونډیانو پور کړې وي او د قبر کیندلو لپاره به یې یو متر ځمکه ټوله شین کمر وي او یا به د خوړ (سای) تر غاړه خاورو ته سپارل کیږي.

ښه مې په یاد دي، چې په دا وروستیو کې د اروانباد ګلزما د ژوند ښه کولو لپاره ډېرې چیغې او سورې وشوې؛ خو د هنر مند ګلزمان دمه هیڅ راسه نشوه او ژبه یې هیڅ لمده نشوه.

موږ یې د دعا پوروړي یوو، نور لاسنیوی به یې هغه چا کاوه، چې نن په نورو لوبو سر دي.

روح یې ښاده

جنت یې ځای»

عبدالغفور لېوال:

د دېرې مجلس مالګه او د حجرې مجلس ډېوه نوره نشته.

د یوه نسل د خاطرو غږ،

اې وطنوالو!

تبریک مو ازادي شه

یا:

دا وطن ودان وطن

دا د هر افغان وطن.

او

وه ورې لیلو...

یو داسې سړی ولاړ، چې خوښې یې ویشله!»

عصمت قانع:

پښتانه دموزیک داوازونو ،غږونو او سورونو هر نالایق اولایق هستونکي ته ډم وایې
ډمتوب ورته کچه توب ښکاري

ډمتوب ورته گناه ښکاري اوډم ورته بې حيا ښکاري

خونن يوهرمند وفات شو 88 کاله يې ژوند وکړ

نه يې مځکه غصب کړه او نه يې دپوډرو سودا گري وکړه ، نه په قاچاقو کې ککړ شو نه يې را کيټونه وشغول ، نه يې قتلونه کولای شوای او نه جنگونه

نه يې دډوډۍ دپيدا کولو لپاره له کوم سفارت سره جاسوسي وکړه او نه يې دگمرکونو دلالي وکړه

سندرې يې وويلي

داوطن ودان وطن دادلوی افغان وطن

بې بې شيريني زيړې گلي

پر گل غونډۍ دارغوان جوړي ميلې دي

نن وفات شو ممکن دقرضو په کفن کې ښخ شي

ځکه ډم وو او دوطن دشتمنۍ قرضداره نه وو

هندوانو دخپل فرهنگ غږ له لاسه ورکړ ملي ماتم يې ورته اعلان کړ

کيدای شي نن ډير پښتانه دگلزمان دوفات دخبر په اوريدو وواېي

څه دده هغه دغه غيۍ دډم

داد تاريخ جبر دی او جبر نازولی دی

دهغه وخت په هيله چې جبر ونه نازول شي

بلکه پرشاه وتمبول شي.»

محبوب شاه محبوب:

«يو ملنگ هنرمند

اروابناد استاد گلزمان د پښتو موسيقۍ يو نه هېرونکی نوم دی، د ژوند لويه برخه يې د پښتو موسيقۍ بډاينې ته وقف کړې وه.

پښتانه هنر خوښوي خو هنرمند يې نه خوښيږي ځکه خو زموږ هنرمندان د ژوندانه وروستۍ ورځې په لوی کړاو تېروي، استاد يې غوره مثال دی، ما يې د غربت او بې چاره گۍ يو تصوير په يوه تلويزوني پروگرام کې کتلی و لا يې هم اوښکې نه شم هېرولی.

نه به بيا د گل غونډۍ د ارغوان د ميلې سندره زمزمه شي او نه به د تمبل له خواږه غږ سره د يوه سوي غږ ياقربان پورته شي.

روح يې ښاد»

همايون سخي:

«انا لله و اناالیه راجعون

از شنیدن در گذشت هنرمند خوش قلب و دوست داشتنی جناب استاد گل زمان عمیقاً متاثر و متأ سف شدم.

درگذشت ایشان ضایعه ی بزرگ فرهنگی و هنری برای کشور و هنردوستان است و جایش برای همیشه خالی خواهد ماند.

من در گذشت استاد گل زمان را به خانواده محترم و گرامی ایشان و تمام هم وطنان و هنر دوستان تسلیت می گویم از خداوند متعال برای ایشان رحمت واسعهٔ الهی و بهشت برین خواهانم

یاد و نام او در خاطر هنرمندان و هنر دوستان ماندگار خواهد بود.

همایون سخی»

فرهاد دریا:

«این مرد بزرگ را بی‌بهانه دوست می‌داشتم و برایم یکی از عزیزترین انسان‌های بود که می‌شناختم. اما او دیگر با ما نیست. صدای او، اما هر بار که ارغوان‌های گلغندی موج می‌زنند، در گوش جان ما طنین انداز خواهد بود” ... په گُلغنډۍ د ارغوان جوړې ميلې دي”...

دیروز “مُخی” ترک مان کرد و امروز استاد. نمی‌دانم این جاهای خالی را - این خالی‌های پر درد را - چگونه می‌توان پر کرد.

سوگمندانه

فرهاد دریا»

**د استاد گلزمان روح دې ښاده وي،**

**جنت الفردوس يې ځای**

## د لتا منگشکر د جنازې مراسم او د اروابناد استاد اولمير ياد

**نعمان دوست**

**د لتا منگشکر د جنازې مراسم مې وليدل چې په څه شان او شوکت او ولسي مينه اجرا شول.**

**خپل بې بديله هنرمند اروابناد استاد اولمير ( ۱۳۰۸-۱۳۶۱) را ياد شو.**

**مشهور هنرمند استاد اولمير؛ چې تلپاتې ملي، حماسي او عشقي سندرې يې وويلې او د استادۍ تر مقامه ورسيده، د ژوند وروستۍ شيبې يې ډېرې دردونکې وې.**

**حتی ويل کيږي چې د ژوند په وروستيو شيبو کې به د کابل ښار د خيبر رسټورانټ مخې ته په دې تمه ناست و چې که د کوم سخي زړه پرې وسوزي او يوه مړۍ ډوډۍ ورکړي.**

**دې بې بديله هنرمند ته حتی په هغه وطن کې د قبر ځای نه پيدا کيده چې ده يې په وصف کې بې شماره دلنشينه سندرې وويلې.**



**ويل کيږي چې يوه شاگرد يې په مايوسۍ جسد مخاطب کړ او ورته ويل يې:**

**استاده!**

**تا خو ويل: دا مې د بابا وطن، دا مې د دادا وطن...**

**اوس خو همدې وطن کې درته د قبر ځای نشته.**


**اولمير، له نن څخه ۳۹ کاله وړاندې کابل کې وفات شو او په ډېر غربت او مايوسۍ يې له هغه وطنه سترگې پټې کړې چې ده ورته خپله سيمه ( پېښور، نوتيه) پرې ايښې وه.**

**هوښيار او نيکبخته ولسونه هغه دي چې پرته له ظالم، خاين او مفسده، هر انسان پکې قدر ولري.**

**اروا يې ښاده**

# د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو نورو فرهنګي فعاليتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت ميډيا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼو تر څنګ په دې وروستيو يو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طريقه او د کتاب بيه او پوستي بيه ښوول کيږي.





۱/ يوه افغانه ښاپيرۍ په کييف کې (لومړی چاپ 1919)، ليکوال محمد طارق بزګر

چې د يوې ريښتنې پېښې له مخه ليکل شوې او د افغان جګړې د ناخوالو، نتيجو ، تاثيراتو او په ټولنه او خلکو يې اغيز، ښځه په افغاني ټولنه کې او د يوې افغانې د دردونکې او ترېخ ژوند کيسه چې بلاخره بدلمنۍ ته مجبوريږي.


د کتاب بيه ۱۵۰ ناروېژي کرونه يا د هغې معادل او پوستي د ليارې ۲۰۰ ناروېژي کرون (د نړۍ ټولو هېوادونو ته).




۲/ ملي رسالت (د محمد طارق بزګر کارنامې) ليکوال اروابښاد مصطفی عمرزی. دا کتاب چې د دعوت رسنيز مرکز او مسئول مشر بيلابيل فعاليتونه او د لسګونو مطرحو افغانانو نظرونه هم په بر کې لري او د دې کتاب ژبه پښتو او دري ده. کتاب د خرڅ (پلور ) له پاره نه دی خو مينه وال يوازې ۱۰۰ کرون ياني (۱۰) ډالر د پوستي مصرف په ورکړې سره کتاب تر لاسه کولای شي.





۳/ زموږ کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا) د ژوند، کار، فعاليتونو او د دغه ستر انسان په اړه د لسګونو افغانانو نظرونه او نور ډېر څه د عکسونو سره راغونډ شوي دي، د کتاب ژبه پښتو او دري ده، دا کتاب هم په وړيا ډول يوازې د پوستي مصرف (۱۰۰ ناروېژی کرون يا ۱۰ ډالر) په ورکولو سره هر افغان چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي او غواړي ورته لېږل کيدای شي.




۴/ کله چې طوطي والوت د ماشومانو له پاره د يو ناروېژي کتاب ژباړه ده د کتاب ليکوال انتون ايسپيرو او ژباړن يې محمد طارق بزګر دی. دا کتاب د ماشومانو له پاره په خوږه پښتو ژباړل شوي او په ښکلي قطع او صحافت چاپ شوی دی. د کتاب بيه ۱۰۰ کرون ياني (۱۰ ډالر)


ده او د پوستي مصرف سره ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر ده د نړۍ په هر گوټ کې هېوادوال کولای شي دا کتاب د دعوت رسنیز مرکز څخه د قیمت په بدل کې وغواړي.





۵/ په انگلیسي ژبه د کییف ښاپیرۍ **(An Afghan Beauty in Kiev)** چې لیکوال یې محمد طارق بزگر دی د یوې ریښتنې کیسې او پېښې له مخې لیکل شوی چې په ټوله د جنگ جگړو د ترخو تاثیراتو له امله د یوې افغانې د ژوند د ناخوالو کیسه چې په پای کې بدلمنۍ ته مجبورېږي. د دې کتاب بیه ۱۰۰ ناروېژي کرون یانې ۱۰ ډالر ده چې د پوستي مصرف سره ټول ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر کېږي چې د قیمټ په ورکړې سره د نړۍ هر گوټ ته مینه والو ته لېږل کېږي. دا کتاب په بهرنیو هېوادونو کې ستاسو بهرنیو دوستانو، استادانو، د کار همکارانو، گاونډیانو، ملگرو له پاره هم یوه ښه ډالۍ ده.

## سره پیشو، کوتره او تور سپی

یوې سرې پیشو یوه کوتره نیولی او څغلوی یی چی نابېره ورته د تور سپی پام شو، ورټوپ یی کړ کوتره یی ترې راخپله کړه او په داسی حال کی چی له خولی یی ناړې ورته څڅېدې، تور سپی کوترې ته وویل :
شکر وباسه چی له پیشو می وژغورلی «را ازاده» شوې!
کوترې وویل: هو له پیشو راخلاصه شوم، خو اوس د سپی تر ژامی لاندې یم .
پر ما یی څه فرق، یا «سرې پیشو» خوړلی یا «تور سپی!»






٦/ **ناروېژي - پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok** چې د محمد طارق بزگر د ۱۷ کلونو د زیار او هڅو نتیجه ده چې ټول ۵۰۰۰ لغاتونه او کتاب ۱۰۰۰ مخونه لري په لوړ معیار چاپ او له ناروې بر سیره په سویډن او ډنمارک کې هم هېوادوال ترینه گټه اخیستلای شي. په دې کتاب سره د هر مسلک د خاوندانو ستونزي تر ډېره حلېږي یا په بل عبارت د لومړي ټولگي تر پوهنتونه، په هر ډول کاري چاپیریال او په کور کې د والدینو له خوا د ماشومانو ژبنۍ ستونزو په حل کې پوره مرسته کوي. د ناروېژي ژبې د هر ډول لغاتو مانا په اسانه په کتاب کې پیدا کولی شئ دا باید هم یادونه وشي چې د یو زیات شمېر لغاتونو، نومونو او نورو څیزونو عکسونه د اسانه پوهاوي په پار د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي چې دا په اسانه د پوهاوي په برخه کې د قاموس کارونکو سره مرسته کوي. د دې کتاب شتون په هر افغاني او پښتنی کور او ستاسو په کتابتون کې ضروري او د ناروېژي ژبې په حل کې ستاسو ښه مرستندوی دی. د دې کتاب بیه ۷۰۰ ناروېژي کرون (هغه چې د دعوت رسنیز مرکز څخه په مستقیم ډول تر لاسه کوي) او د پوست د لارې بیه یې په ناروې، سویډن او ډنمارک کې ۸۵۰ کرون ده. د ناروې د هر کتابتون څخه د لاندې معلوماتو په ورکولو سره ناروېژي پښتو قاموس غوښتلای شئ.

د کتاب نوم: ناروېژي پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok
د لیکوال نوم: محمد طارق بزگر Mohammed Tariq Bazger
ایس بی این شمېره: ISBN: 978-82-691395-0-1

د پاسنیو کتابونو مینه وال او غوښتونکي کولای شي په حضوري ډول یې د لیلیستروم په ښار (ناروې) کې یې د دعوت رسنیز مرکز څخه واخلي او یا هم د بانک د لارې پیسې د دعوت میډیا په اکاونټ AC#0530 22 94668 او یا د دعوت رسنیز مرکز د ویپس په شمېره شمېره Vipps: #557320 د خپل بشپړ پوستي ادرس سره راولېږې ستاسو د خوښې او اړتیا وړ کتاب به ډېر ژر تر تاسو دروسېږي.

د دعوت رسنیز مرکز دفتر Dawt Media Center
Voldgt. 37A
2000 Lillestrøm, Norway
Tel: +0047 63844384
Mobil: +0047 90856195

# Gull Zaman, a Popular Afghan Pashtu singer dies at 84

Saturday, 26 Feb 2022



Gull Zaman, a popular Afghan Pashtu singer who served almost all his professional life singing for the Afghanistan National Radio and Television Network died at age 84.

Gull Zaman was born in Chena Kala village of southwestern Khost province of Afghanistan.

He was one of the classic musicians of Afghanistan that has over 500 audio and video songs in the Afghanistan National Radio and Television archive.

Famous Afghan female singer Aryan Sayeed in a Facebook post has expressed her condolences to the families and relatives of Gull Zaman.

***Ustaad Gul Zaman will live for eternity through his beautiful compositions and all his artistic work and contributions to Pashto music.***

The fact that I was able to sit by his side and perform ten of his brand-new compositions, I consider myself as one of the luckiest Artists out there, Aryana Sayeed said.

Decades of wars in Afghanistan made many singers and musicians leave the country and live in exile.

## The Beautiful Afghan Night



By: David P Carroll

The night sky is so beautiful
And the Afghan people
Are so peaceful to
And we all sing along
To this beautiful love song
And all the Afghan people
Sing and clap along
And the stars are shining
So bright in Kabul tonight
And it's just a beautiful sight
To be in Afghanistan tonight.

## Sun In Afghanistan



**By: David P Carroll**

The sun is shining
So bright and the
Sky is so blue
And the river its banks
Are so full to and
Kabul is such
A beautiful sunny warm place
And I'm feeling the heat in
This beautiful hot place
And Afghanistan is the place
To be as the sun shines
So brightly on me and I'm so happy I'm
In Afghanistan today
And I hope and pray
I get to see the warm sun
Shining in beautiful Afghanistan
For one more day.

More than 20,000 people have signed Save the Children's Save Afghan Lives petition and more than £28m has been donated by the British public to the Disasters Emergency



Committee's Afghanistan crisis appeal to date.

Ninangyali's sister Harija, 6 and the desert route taken by water trucks to reach her family on the outskirts of Jawzjan

Save the Children is distributing cash, winter clothes and fuel to families in some of the hardest-hit areas to help them stay warm and fed through the bitter winter. Cash assistance helps to prevent families from resorting to desperate measures that adversely affect children, such as child labour, early marriage, and reduced meals.



Children on the streets in Kabul

In 2021, Save the Children's mobile health clinics in Afghanistan conducted nearly 375,000 check-ups and treated more than 12,000 children for malnutrition.




**LET AFGHANS DETERMINE THEIR OWN FUTURE IN THEIR OWN COUNTRY AFGHANISTAN**





Save the Children brings safe water to families

Save the Children's country director in Afghanistan, Chris Nyamandi, said:

"Each one of these stories is a powerful reminder of the grim reality for families across the country, the daily struggle to survive the winter and the millions of young lives that are at risk.

"Time is running out for Afghan children, to get the urgent support they so desperately need. Families are



doing everything they can, making impossible decisions about who eats and who doesn't.

"Humanitarian aid can get children through the winter, but this crisis can't be solved with aid alone. Afghanistan is a cash-based economy, so without cash coming into the country, it's not difficult to see that ordinary people are going to suffer. Governments must find a way to unlock vital funds and financial assets to prevent further mass loss of life."



Ninangyali has severe malnutrition, and is being treated by Save the Children's mobile health team

dangerous territory. Families sell what little they have to buy food, sending their children to work or getting by on bread alone.



Laalah walks up the stairs with her baby brother, Faakhir, in their home in Balkh province. They fled conflict in Faryab and their house was destroyed after they left

The withdrawal of aid and the freezing of financial assets have driven Afghanistan's public services to the brink of collapse. Hospitals across the country have been forced to close as wages for health workers have dried up. Desperately sick children are being turned away as there are simply no medicines to treat them, and, where they are available, soaring prices mean they are too expensive.

In Kabul, 12-year-old Arzoo, the oldest of eight children in her family, hasn't been to school all winter as schools are closed. Her father hasn't been able to work for months. Most days they just eat bread because they cannot afford anything else. Arzoo's mother, father and 18-month-old brother are ill, but the family can't afford to go to the doctor.

Arzoo is the oldest of eight. Her father, Ashequllah, hasn't been able to work for months and has had to borrow money from other families to buy food





She said: "Now there is no job for my father to do and bring food home. One day we have food and the next day we don't." Arzoo's mother, Ferisha, 36, said: "There is absolutely no work. People are desperate for food; there is nothing."

When asked about the future for her children, she said: "My hope is that they study and make progress; one can only have this hope."

# Children on the edge of life in Afghanistan

Save the Children is releasing a powerful series of photographs by world-renowned photographer Jim Huylebroek to highlight the human tragedy unfolding in Afghanistan as the country this week marks six months since the dramatic transition of power

The photographer Jim Huylebroek travelled across the country with the international children's agency Save the Children, from the drought-ravaged plains of the north to the freezing streets of Kabul, capturing the stories of children whose lives have been devastated by the humanitarian crisis, for the series titled: children on the edge of life.



Children play outside after their class at Save the Children's Child Friendly Space in a displacement camp in Balkh province

The images tell the stories of their fight for survival. Families making impossible decisions about which child they can afford to feed, and which will go hungry; mothers giving birth alone on dirt floors because they cannot afford to travel to hospital; children forced to work on the streets to put food on the table.

In the north of Afghanistan, Laalah*, 12, lives with her mother and four siblings in a tent, built with tarpaulin sheets in the basement of a half-constructed building. Her father, Maalek, struggles to find work as a labourer, and sometimes has no choice but to send his sons to find rubbish to sell or burn to keep their home warm.

Maalek, 40, said: "Whenever kids are free from school they go out and collect rubbish. They go onto the streets and collect and sell cans so they can afford their school expenses or food."



Zahman, 3, Omfaruk, 8, Halima, 6, Nooriullah, 11, and Noori, 12, live in Kabul. Their father is unemployed. There are 16 people in the family and one bag of flour lasts them eight days

"My dream is to find somewhere, to build a place for them. To be able to build a house to live in so that they can stop being homeless like this."

Laalah said: "I hope there are schools in the future. I want to go to school. To be either a teacher or doctor. I want our living to be good, to eat good food."

Nearly 5 million children are on the brink of starvation as the country faces its worst food crisis since records began. The triple impacts of drought, conflict and economic collapse have pushed many families into

into becoming a territory almost entirely dependent on foreign largesse.

While there is an immediate demand for relief and assistance, what Afghanistan ultimately needs is its own functioning economy, which has now been made all the more difficult as the US essentially bankrupts the Afghan Central Bank. Biden's executive order thus undermines a future of economic stability and growth. The national economy simply cannot function without a central bank and a reliable trading system. Even though some foreign currency is entering the country through entities such as the International Bank of Afghanistan, it's not nearly enough and international commerce is nearly impossible in Afghanistan. As one shopkeeper in Kandahar, Haji Abdul Nafi, told the New York Times: "We cannot earn money for a living, we cannot do business with other countries, we cannot import and export goods – we are almost cut off from the world."

The idea that bankrupting the Afghan Central Bank will starve the Taliban begins to look even more ridiculous and craven when you discover that, under current US rules, non-governmental organizations operating in Afghanistan are "permitted to pay taxes, dues and import duties to the Taliban as long as the payments are related to the authorized activities". This is probably the only way that some aid can enter the country, but it also illustrates just how hypocritical Biden's executive order is.

There have to be better solutions out there, and there are proposals being discussed that would allow the Afghan Central Bank to have its activities monitored by independent auditors to guarantee that none of the money is taken by the Taliban. Would that work? I don't know, but what I do know is that this executive order is cruelty and theft masquerading as charity and justice, and it must be revoked before the damage it causes is beyond repair.

*Moustafa Bayoumi is the author of the award-winning books How Does It Feel To Be a Problem?: Being Young and Arab in America and This Muslim American Life: Dispatches from the War on Terror. He is professor of English at Brooklyn College, City University of New York*




## DAWAT MEDIA
### ISSUES A NATIONAL REQUEST

The Dawat Media Center has committed itself to preserving the historical and cultural heritage of the Afghan nation. A process has been developed to document and archive national, cultural, and historical information about Afghanistan and its people. Such information will eventually become a part of a national archive. In doing so, it is our hope that our future generations will have the opportunity to easily access accurate information regarding their nation and its heritage. Recent efforts by Dawat have resulted in the collection of historical and cultural materials such as films, books and other forms of literature. We are now calling upon all our respected countrymen to assist us in this effort to preserve our national identity. Your contribution may be in the forms of documentary films, videos, cds, vcds, dvds, books, magazines, newspapers, paintings or any other form of media available. Items submitted may be originals or copies and, in any language, desired. All items will not only be stored as part of a national archive but will also become accessible to the general public. It is said that rivers are created by many small droplets of water, as such the small efforts of each individual will eventually contribute to a product, we can each express pride in.
Once again, we call upon individuals within all nations to fulfill their duty as Afghans and contribute to the preservation of their historical, cultural and national identity. It is time for us to act, as actions speak louder than words.

**M. Tariq Bazger,**
Editor and publisher

**wwww.dawatmedia24.com**

their lives immiserated by bureaucrats in Washington? (Reports indicate that the Afghan assets in the Central Bank are composed of foreign exchange funds, the reserves of Afghanistan's commercial banks, and ordinary people's savings.) Without rehashing the story of how the Taliban came into existence in the first place, we can all agree that no one voted the Taliban into power in 1996. Why should the people of Afghanistan be held responsible for that group's actions? Nor did any of the 19 hijackers who carried out the September 11 attacks come from Afghanistan. The truth is that the Afghan people have overwhelmingly been the victims of the Taliban and of al-Qaida, and to take Afghan money to pay grieving Americans in order to punish the Taliban is nothing less than larceny as collective punishment.

And why does this kind of first-world financial hostage taking only move in one direction? After all, don't the United States, Pakistan, Saudi Arabia, Russia, the UK and many other states also bear significant responsibility for the thousands upon thousands of civilian deaths in Afghanistan? The money allied forces occasionally offer in condolence payments is peanuts relative to the destruction they have caused. Once we conclude that the September 11 families deserve justice for their losses, which they do, then shouldn't we also look for redress for the Afghan victims of allied violence?

And yet, the idea that Afghans could seek legal means to abscond with the US Treasury due to the death of their people and the US role in the destruction of their country is laughable. This painful asymmetry illustrates the enduring colonial nature of international politics. Whatever legal wrangling about lawsuits and default judgments that this executive order is ostensibly meant to address, the message it sends is clear: American lives matter more than Afghan lives, and American tragedy looms larger than Afghan pain.

But that pain is ongoing. From a Soviet invasion that thrust ordinary people into the middle of one of the hottest zones of the cold war, Afghanistan has endured 40 years of devastating turmoil, starting with the United States and the Soviet Union conscripting Afghans into their global conflict. (We're approaching the 40th anniversary of Ronald Reagan proclaiming 21 March 1982 as Afghanistan Day.) Then, after 9/11, Afghans were soon subject to systematic torture at the hands of Americans at Bagram airbase, merciless American drone attacks, murderous night raids and so much more.

Of course, the Taliban also bear enormous responsibility for their extraordinary violence and brutal repression and helping them rebuild their power would be disastrous. But stealing the money of Afghanistan and distributing it as you see fit hardly furthers the interests of justice. It's simply shocking that anyone, let alone the US government, thinks that it could.

On the contrary, the people of Afghanistan are currently facing an economic collapse that is gargantuan in scope. A prolonged drought, the ravages of the pandemic, and the freezing of western aid since the Taliban seized power last year has left the country in shambles. At least 95% of households in the country are not consuming enough food to sustain themselves. One million Afghan children face acute hunger. Over three million suffer from malnutrition. Almost three-quarters of a million people were displaced from their homes from last year's fighting, in a country where four million people had already been internally displaced.

Stealing the money of Afghanistan and distributing it as you see fit hardly furthers the interests of justice

The administration argues that this executive order will free up funds that it will immediately distribute as aid. But the administration's alchemy of transforming other people's money into humanitarian assistance is also, practically speaking, shortsighted. The move will ultimately pauperize the nation even more, push it further

DAWAT
www.dawatmedia.com
ISBN: 978-82-691395-2-5
Vol. 242 Jan-Feb. 2022

DAWAT is independent publication. Established in 1988. DAWAT is not associated with any political organization. The views and ideas expressed in DAWAT are those of the writers and are not necessarily those of the editor. All letters and articles sent to the editor are welcomed but will not be returned.

**Editor and Publisher: M. Tariq Bazger,**
**Dawat Media, V/ M. Tariq Bazger**
**Voldgt. 37A, 2000 Lillestrøm, NORWAY**
**Tel. +47.63844384 Mobil. +47-90856195, dawatmedia@gmail.com**

**Annual Subscription US$ 50**
**AC# 0530 2294668 BIC (SWIFT-adresse): DNBANOKKXXX**
**A/C for international payments: NO15 0530 2294 668**
**Vipps: #557320**

---


# Why is the White House stealing $7bn from Afghans?

*By: Moustafa Bayoumi*



Source: theguardian.com

To take Afghan money to pay grieving Americans in order to punish the Taliban is nothing less than larceny as collective punishment



'Why must ordinary Afghan citizens who had nothing to do with the September 11 attacks have their savings confiscated and their lives immiserated by bureaucrats in Washington?' Photograph: Anna Moneymaker/Getty Images

Last week, the White House issued an executive order announcing the theft of some $7bn. Shocking, to be sure. But more shocking still was when that same executive order also identified the thief: the White House.

In a move that can only be described as brazenly immoral and utterly unconscionable, the Biden administration has begun a process to seize the more than $7bn of assets that the Central Bank of Afghanistan has on deposit at the Federal Reserve Bank of New York. Since the Taliban gained control of the war-ravaged country last year, that money has been frozen in place. Now, the administration has concocted its own mega-grift, planning to spend half of the money – not their money, lest we forget – for humanitarian aid in Afghanistan, while reserving the other half of the funds – not their money – for the relatives of the September 11 victims who have brought claims against the Taliban for the 2001 terrorist attacks.

Did I mention that this is not their money?

These funds belong to the people of Afghanistan and must remain with the people of Afghanistan. The fact that this must even be stated is mind boggling. There are ethical and practical reasons why Biden's plan must be abandoned.

First, why must ordinary Afghan citizens who had nothing to do with the September 11 attacks have their savings confiscated and